د لوي څښتن په نامه

په پښتو کې حالتخېړنه او برياوې

ليکونکی: ډاکتر ماخان مېرزی شينواری

خپروونکی: انجنير شمشاد زهير
Ketabton.com

نېټه: ۲۰۲۲ ز ک

Ketabton.com

بن- جرمني

(c) ketabton.com: The Digital Library

نیولیک

سريزه ٣

-- حالتونه او ،،زما،، که... ۴

-- پښتو کې نومځاينيوي او ١٣

-- د کاسوس رېکتوس او 15

-- د موږ ستونځې له ژبې... ١۵

-- پښتو او ژبلاريزې نااوبې.. ١٧

-- د پښتو ژبې وده ١٧

-- په پښتو کې د حالتونو يا پېر.. ٢٠

ولې بايد دما خبره سمه وي؟ ٢٢

Klitikum = تکيه اړ نومځاينې ٣٠

اينکليتيکي نومځاينيوي: ٢٨

اينکليتيکي نومځاينيوي: ٢٩

په پراته حالت کښې ٣١

په پراته حالت کښې ٣١

-- د را(در، ور) بيا خوب ٣٢

-- د پښتو ستونځې او ستونځوبې ٣٣

د پښتو ځنګه والي، پېر ... ٣٩

سنترپوزيشن..... ۴١

اينکليتيکي نومځاينيوي: ٢٨

اينکليتيکي نومځاينيوي: ٢٩

کابل ته که و کابل ته ٣٩

په پښتو ژبلار کې نوي ميدنې:..

کازوس رېکتوس او کازوس .. ۴٢

زما (د ما، يما) پوښتنه ۴٩

په ژبلار کې نوي ميدنې ۵٢

تکيه اړ نومځاينيوي ۵٩

حالتونو نوى ځېړن-پوهه ۶۴

د پښتو حالتونو د ستونځوبيو بريا ۶٨

د ډاکتر ماخام مېږي شينواري ليکنې او ژباړې ٨٠

د ډاکتر ماخان مېږي شينواري ...٨۶

(c) ketabton.com: The Digital Library

سریزه

دا د حالتونو څېړنه لکه چې ما کړې او په داسې غزېدلې توګه ورته اړیین شوی یم، په پښتو کې لومړنۍ ده، نو له دې امله ستاسو پوره پام ورته را اړوم.

تکرار لري، خو مرسته کوي.

لاس ته راوړنه يې په پای کې ده.

د ما ليکنې له يوې څخه وبلې ته وده کړې او په هره ليکنه کې يو څه پرې ور زيات شوي دي.

دا چې ما يو ليک د پوهنتون د پښتو څانګې ته يو ليک لی.لی، باور وکړئ د نادرنښت يا ځانستاينې له امله نه دئ، خو پهخبرو کې ورسره راتګ ستونځمن وو او دا مې و ځان ته يوه لار پرانستله، هيله ده سر به ونيسي.

ږ

.

.

.

(c) ketabton.com: The Digital Library

حالتونه او ،،زما،، که ،،دما،، او نور Causus

یادونه :

١ - دا لیکنه به کیدی شي بیا ځل څه ولري، خو بیا همغه هوښیاره خبره ده، چې دوه واره کنډلی کلک وي.

٢ – د تازه څېړنې له مخې به دا حالتونه داسې وبول:

٢ ١ – ګړونی حالت نومیز یا نومیناتیو.

٢٢ – پرېکړونی حالت. اکوزاتیو، خو د ځنو کمونو او زیاتونو سره، چې نه یې ډېروم.

٢ ٣- د خاوندوالي حالت. جینیتیو

٢ ۴ – د پسېځاینیوو حالت. داتیو.

دا دې په اړونده لیکنه کې وکتل شي.

له هغه وخته مې چې د نومځانیوو او حالت په هکله لیکنې کړي، نو د همغه وخت راپه دېخوا مې زړه وو، چې دا لیکنه سرته ورسوم، خو په خپل اند او فکر مې ورسره ستونځې هم پوره ډېرې وې .په دې لیکنې دادئ پیل کوم، په دې هیله، چې ژبپوهان او نور د ژبې مینه وال به په کې شونې ونډه واخلي، زه یواځې دا موضوع تاسو ته د خپل اند سره سمه، د ما پر پرلپسې څېړنو بنسټ باندې او په پوره هڅو پوهنیزه توګه وړاندې کوم .دا چې ځنګه مخ ته لاړ شو او لاسته راوړنه به یې څنګه او څه وي، دا تاسو ژبپوهانو ته درپاتې دئ.

زما لیکنې ټولې د الماني په مرسته دي، نو دا چې په الماني کې حالت څنګه دئ، هلته روښانه لار شته او ټولې لارې هم د نومځاینیوو او نورو له لارې روښانه شوې دي، خو په پښتو کې داسې نه ده او زه ورسره ستونځې لرم، چې دا نو باید څنګه وشي .دا چې پښتو هم دنوروژبو په څېر پیداښت او د/پیداښت سره سم دا هم یوه پوره ژبه ده، داسې لارې یا خپلې لارې لري، چې زه یې د ما د څېړنو پر بنسټ باندې وتاسو ته ستاسو و مخ ته ږدم ، دا چې څنګه وشي او څنګه د ژبلارې له لارې دي، ستاسو دنده دې وي .که په دې هکله لیکنې ولرو، زه لکه تل په خواشینی وایم، چې ترې خبر نه یم او که لیکنې وي هم باور وکړئ، چې دا به خپل څېړنیز غوره-والی ولري او تاسو به ګډ کار ته راوهڅوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګرانو لوستونکو!

د دې ليکنې څخه مې موخه دا ده، چې دا حالتونه موږ په پښتو کې وڅېړو ، چې څو او کوم دي او په دې برسېره د همدې حالتونو په بنسټ يا مرسته وڅېړو، چې دا د ملکيت له پاره دا دما، دتا سم دې او که نه زما او ستا .موږ دا درې ډوله په ژبه کې لرو، چې ځنې ځايونه دما، دتا او همداسې يما او ځنې بيا زما او ستا او بله ډله يې يما، يتا وايي .دا يوه پوهنيزه څېړنه ده او دا اجازه به ځان ته ورکړم، چې له تاسو درنو ژبپوهان او مينه والو لوستونکو څخه د ګډ کار هيله وکړم.

دا حالتونه د پوښتنو په بنسټ رامنځ ته کيږي

پيل يادونه: په پيل يادونه کې دا پېپام کې ونيسو، چې ما دا حالتونه د الماني حالتونه څېړلي، چې پښتو حالتونه يې ورسره سر نهخوري، خو کټه مې ترې احستې او پل پهپل به به دې ليکنې کې د دې ستونځو لپارهاوبي ګورو (ستونځوبی لکه ګړوبی)

نوميناتيو**Nominativ** (له لاتين څخه، نومونی يا نومونيز) په ګرامر کې د يوه حالت نومونه ده، چې له هرڅه څخه دمخه (دمخه مې ناسمه،، د هرڅه له مخه،، ليکلی وو) په جمله کې د شي د نخښونې په چوپړکې دی، د دې له پاره دا هم تيپيکي يا نومونييز دئ چې د يوه شي د خپلواک کارونې له پاره رامنځ ته کيږي (دا په دې پوهېدنه، چې بې د بل له واکه).

لنډ: دا حالت دی، چې د ،،څوک-، چا – او څه حالت،، بلل کيږي، د يوه حالت سيستم په توګه رامنځ ته کيږي، چې دا نوميناتيو – اکوزاتيوسيستم بلل کيږي.

بيا: د نوميناتيو يا د ،، څوک،،،چا - ،، او ،،څه شي،، حالت.

موږ د ګړنو يا کړ له مخې د دوه ډوله ليکنو سره مخامخ يو:

لومړی:

يوه يادونه پسې شته

سپين يا هغه کار ته ځي

سپين يا هغه کار ته لاړ

سپين يا هغه به کار ته لاړ شي

(c) ketabton.com: The Digital Library

سپین یا هغه کار ته تللی وو

څوک کار ته.......

سپین یا هغه

زه کار ته ځم

زه کار ته لاړم

زه به کار ته لاړ شم.

زه کار ته تللی وم.

دویم ډول یې:

زه مڼه خورم

زه به مڼه وخورم

ما مڼه وخوړه

ما مڼه خوړلې وه.

لنډه یادونه: وروسته به وګورو، د ،، زه کا رته لاړم،، په ځای به سم ،، زه وکار ته (و)لاړم،، سم ولیکو. د ژبلار او په ژبلار کې د ما د نوو میندنو په بنسټ (دا دې هملته (همهغلته) وکتل شي).

دا همداسې د دویم کس له پاره ته او تاسې راځي او د ریم کس له پاره هم هغه او هغه راځي(په دې دریم کس کې لیکنه یو ډول ده، خو د ویلو څخه بریښي، چې لومړی ه څرګنده یا روښانه ه ده او په دویم کې بیا دا پځه ه ده او که بل ډول یې بولی. هغه زور او زورکی مې ښه نه راځي، چې په پښتو کې نه شته)

یعنې په دریواړو کسانو کې یې توپیر یو ډول دی، چې د کړنې پرته یې په څو کړنو کې نومځاینیوی هم بدلیږي، نو له دې امله دا د څه ـ ، چا- او څه حالت دی.

مور کار ته ځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

څوک کار ته ځي؟ ځواب: مور

د وروستنيو څېړنو پر بنسټ باندې به وګورو، چې داپورته داسې ليکل کيږي:

مو وکار ته ځي

څوک وکار تهځي؟ ځواب: مور

کاليمينځی خرابيږي.

څه شی خرابيږي؟ ځواب:کاليمينځی

يادونه: ماته هم دا نومونه توکلي د ليکونې (قلم) خولې ته راځي.نه پوهيږم،،چې دا اله، چې کالي پرېمينځي،کاليمينځی، کاليمينځونی يا کاليمينځونکی وبولو. او که نه،نو کالي مينځلو اله. څنګه مو چې خوښه وي.

جينيتيو Der **Genitiv**

جينيتيو د الماني ګرامردويم حالت دئ.

دا به موږ په پښتو کې هم اسې روښانه کړو، چې د خبرو بايد وي:

لومړی: دا حالت د ملکيت حالت يا د ،، ،،دچا،، حالت په نامه هم ياديږي.

يادونه: په نوميز حالت ،، چا-،، وو او دلته ،، د چا-،، حالت دئ.

بيلګې: ،،د ګاونډې کور،،.

دا د چا کور دي. دا د ګاونډې

،، د يوه لرې زنګ غږ،،.

يادونه:

اوس ګورم، چې دا لاندې سم نه دئ او دلته بايد د اړونده حالت هغه اړونده موږُېم ،، د ،، راشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د جينيتيو ،،په څه (شي)،، حالت

هغه په غلا تورن دی.

هغه په څه (شي) تورن دي ؟ ځواب: په غلا

يادونه: په وروسته ليکنو او دما په ميندنو کې بهو ګورو، چې دا حالت په پښتو يې هغه زيات د پرېکړوني لپارخ راځي.

Der **Dativ** داتيو (دا اوس موږ په پښتو کې د پسېځاينيوو حالت بولو(ښه يې : دی))

يادونه: دا ليکنه د موږ ورسره بلدې لار سم دي، خو د موږ د نوې ژبلار سره و سمون ته اړتيا لري.

داتيو د الماني ژبې دريم حالت دی يا په جمله کې دريم حالت په ګوته کوي. داتيو د ،، چاته حالت،، هم بلل کيږي.

د داتيوله پاره په الماني پوښتنه پوښتنه کيږي، چې چا ته (سمه پوښتنه يې : و چا ته)؟

بيلګې: زه دې ميرمن ته د يادښت کتابچه ورکوم. چا ته د يادښت کتابچه ورکوم؟ ځواب: ميرمن ته.

هوګی سوغات سپين ته ورکړ.

هوګی سوغات چا ته ورکړ؟ځواب: سپين ته

زه زما (دما) ملګري ته يوکتاب سوغات ورکوم.

چا ته سوغات ورکوم؟ځواب: زما(دما) (و) ملګري ته.

د دې حالت سرهپه نږدې څېړنهکې دا حالت ما د پسېځاينيوو حالت بللی. د ما ميندنې او نوې ليکنې دا روښانه کوي.

اکوزاتيو Akkusativ

يادونه: د دې حالت اړونده حالت ليکنې په نورو حالتونو برېښي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اکوزاتیو یوګرامري حالت دئ. په ورځني الماني ګرامر کې دا د څلورم حالت سره ترتیبیږي. د دې د روښانتیا له پاره په الماني کې پوښتنه کیږي، چې ،،څه (شی)،، یا څوک او که ،،د چا؟؟؟،،، نو دا له دې امله د څوک حالت هم بلل کیږي.

اکوزاتیو: د ،، چا - یا څه شي حالت

ښاغلی سپین خپل ورور ګوري

ښاغلی سپین د چا لیدنه کوي؟ ځواب: د خپل ورور

یادونه: دا حالت په پښتو کې کله د پرېکړونی حالت دی او کله د خاوندوالي حالت دی، هلته به ورباندې وپوهیږو،

دا پورته غونډاله زموږ پښتو کې داسې ورځنۍ نه ده، نو دا څنګه ده؟ سمه او که ناسمه.

زه خپل ملګري ته یوکتاب ډالۍ یا سوغات ورکوم.

زه خپل ملګري ته څه شی سوغاتوم یا ډالی ورکوم؟ ځواب: یوکتاب

بیا پورته سره ،، و ،، نه دی لیکل شوی، نو:

زه و خپل ....

دلته له هرڅه څخه د مخه یوه یادونه ده، چې باید پام مووړته وي:

له دې څخه د مخه: تر دې وخت پورې مې لا دا حالتونه داسې سم نه وو څېړلي، نو دلته هم هغه غوښتوني څېړنه نه شته.

دا ګرانو لوستونکو لپاره هم کتوره ځکه ده، چې له یوې خوا به د ما پر ستونځو باندې وپوهیږي او دا چې پخپله به هم د لومړي ځل لپاره مخامخ وي، ښه به یې پام ورته راوګرځی.

لنډ: په پښتو کې یواځې پوستپوزیشن شته او بس.

ما دلته سربل لیکلی یا دلته د پښتو اوستربلونه زیات دي او همداسې کیدی شي سیرکومپوزیشنونه هم وي،چې هغه به ګران لوستونکي په اړونده ځای کې ولوستلی شي. د نه کارڅخه نیمګړی کار هم هرومرو ښه دی، په ډېره بخښنه، که دا کار موسترې کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

یادونه: د دې سر بلونو او اوستربلونو.... باندې خو نه پوهېږم، خو ما هغه د الماني انډول یا د یوه اماني وی انډول د دې له پاره اړیکویونه لیکلي، ناسم نه دی، ځو ستاسو خوښه

دلته به بیا د لږ بیا لوستنې سره مخامخ شو، ما که په لیکلو ستړی کوي هم، هیله ده، چې تاسو په لوستلو ستړي نه کړي.

دې ته هم یوه پیل یادونه:

دلته هم هغه ستونځې، چې لرودي مو د نوو څېړنو سره سمي شوی، خو سړه سینه به ورته لرو. دا هم د موږ په هغه ورسره بلده بنه یا پوهېدنه ناسم نه دي، خو په نوي پیدا بنه دي.

یادونه: ما په لیکنه کې پورته څنترپوزېشنونه لیکلي. په راتلونکو لیکنو کې به ګورو، چې پښتو یواځې پوستپوزېشنونه لري او بس.

ـــــ که له الماني څخه يې راواخلو، نو (باید فکر ورته وکړو، چې په پښتو کې به څنګه وي؟) حالت یا کاسوس په الماني کې څلور حالتونه په نخښه کوي. حالت موږ ته ښايي، چې نومن د نورو توکو سره په جمله کې د نومن، د ، ملکیت، داتیو او؟؟؟؟ څنګ نوري څه اړیکې لري. نومن یا نومونه، د هغه ملګري(چې ښځینه نارینه ترې څرګندیږی(الماني یې ارتیکل)) همداسې وکیل یا نماینده(نومځاینیوی) په حالت کې جوړیږي.

دې ته سړی کردان یا بدلون وایې .نومونه، ارتیکل یا نر -ښځینه والی او نومځاینیوي د خپلې دندې له مخې ګردانیږي یا بنه بدلیږي

Wofür braucht man den Kasus?حالت د څه له پاره په کار راځي؟

د دې له پاره چې د حالت موخه باندې وپوهیږو، غوره ده چې یوځل یوه جمله په پام کې راولو، چې توکي يې ګردان یا بنه-بدل شوي نه وي .دلته پام ته راځي، چې دا چې دایوګوني حالتونه نه یواځې یوه دنده لري، بلکه د دې له پاره مسئولیت یا دنده لري، چې موږ وپوهیږو .یوه غونډاله چې دا په پام کې ونه نیسي د پوهېدلو نه ده.

دلته یوه بېلګه راوړو:

له نه بنه بدلون سره :ښځه وروړملا لور خولې ورکوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له بنه بدلون سره : د ورور ښځه د ښوونکي (و) لور ته خولۍ ورکوي.

لاندې يې الماني :

Nicht dekliniert: Die Frau der Bruder geben der Tochter der lehrer der Hut.
Dekliniert: Die Frau des Bruders gibt der Tochter des Lehrers den Hut.

په لومړۍ غونډاله کې د غونډالي ځانګړي توکي بنه بدل شوي نه دي او په لاس ته راوړنه کې په اړونده حالتونو هم نه دي برابر شوي او په پام راځي، چې غونډاله پوهوړ نه ده .د دې په الماني کې) په پښتو کې بايد ځانله څېړني پرې و شي (د څلورو حالتونو غوره دی، چې دا الماني او زموږ په حالت که دا پښتو يې وپوهيږو .

ګردان يا بنه بدلېدنه شوني کوي، چې د نومه وني يا نوميناتيو اړيکي نورو توکو ته روښانه شي سمه ګردانونه يا بنه بدلونه يې په الماني کې سمه ده او پښتو کې به ورته پام وکړو.

دا چې په دې غونډاله کې کوم حالتونه او څنګه راغلي، د الماني څخه يې پيل کوو او بيا پښتو ته راځو.

Nominativ + genitiv Prädikat Dativ+genetiv Akusativ

Die Frau der Bruder gibt der Tochter desLehrers den Huz

ملکيت)؟ + (نوموی ملکيت +داتيو)؟ (نومن کړنه يا پرېديکات

د ورور ښځه د ښوونکي لور ته خولۍ ورکوي.

لږ تر لږه دلته ګورو، چې د پښتو غونډاله له ملکيت څخه پيل کيږي او پسې ته به ګډ فکر وکړو...

په الماني کې څلور حالتونه دي او په پښتو کې به ورته وګورو، چې ستاسو کار په کې اړين دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د الماني غونډاله په نومونه پیلیږي، خو لاندې پښتو یې په خاوندوالي پیلیږي، پسې نومیناتیو راځي بیا خاوندالی پسې داتیو پسې خولې باندې پرېکړه نه کوم، چې د ګرامر له مخې څه شی دی او پسې ورکوي پرېدیکات یا کړنه ده.

د پښتو حالتونه یې داسې

د ورور ښځې د ښوونکي لور ته خولې ورکوي.

یادونه: دا پورته غونډله د نوو څېړنو په بنسټ ناسمه یا ناپوره ده، چې اوس یې باید۔ د ماد څېړنو پهبنسټ۔ داسې ولیکو:

د ورور ښځه د ښوونکي و لور ته خولې ورکوي. دا ،، ولور،، د اړونده حالت د نومځاینیوي په ځای راځی او د پسځاینیوي حالت دی.

د دې پوښتنه به داسې وکړو:

د چا څوک د چا چاته څه شی ورکوي؟

یادونه: د اوسنی څېړني سره به داپورته داسې ولیکو:

د چا څوک د چا وچاته څه شی ورکوي؟

واکوالی نومونه واکوال داتیو نومونه کړنه.

دلته په پښتو کې د اکوزاتیو حالت ګومان مې دی نه شته .پوښتنه دا ده، چې ایا موږ د اکوزاتیو حالت لرو او که څنګه؟دا د خبرو یوه موضوع باید وي .په الماني کې هم کله کله داتیو د اکوزاتیو سره رآځي .په پورته غونډاله کې خولې په الماني کې اکوزاتیو دی، خو پښتو کې داسې برېښي، چې نومیناتیو دی، و بیا هم پوره څېړني ته یې اړتیا شته.

نوموی کېدی شي د چا/ د څه شی له ؟ له لارې وپوښتل شي.

دا حالتونه چې پېژندل – او څېړلکیږي د همدې پورته پوښتنویونو له لارې کیږي.

یادونه: داحالت او غونډلي یې پهپښتو ژبه کې د پرېکړوني د حالت دی، چې روښانه کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په پښتو کې نومځاینیوي او حالتونه:

ما تراوسه (ما ،،پوري،، د مخه ورسره نه وو لیکلی، چي بي له ،،پوري،، څخه ناسم دى) له تاسو سره د الماني نومځاینیوو او همدا ډول د حالتونو په هکله خپلي لیکني ګډي کړې .راځئ، چي وګورو، چي دا به په پښتو کې څنګه وي .دا به هم له الماني څخه په ګټه اخستنه باندې ودانې وي .

یادونه: دا لاندې او دا پسې لیکني داسي څه بیا راغلي، خو غوره دلته دا ده، چې دا د کلیتیکي حالت یوه برخه ده، چې وروستهپور هڅېړل شوې. داچي دا سوچ بوچ نوې دي، نو ګورى، چې ما هم ورسره څومره ستونځې لرودې دي. هیله ده ، چې ځانان ژبپوهان به یې سره سمې کړي.

اېنکلیتیکي نومځاینیوي:

یادونه:

۱- ډلته تکرار شته، خو لوستلیې ګټور بولن.

۲ – دا لیکنه هم وروسته بیا پوره او سمه شوې. دا به د ما په پاى لیکنو، اندم چې سمي شوي به وي. او وبه ګورو، چې دا لیکتیکي یا تکیه-اړ نومځاینیوي دي، چې د پسېځاینی حالت کې کارول کیږي.

موږ د نورو ژبو څخه ګټه اخلو، په زیاتو ځایونو کې د نورو ژبو څخه ګټه اخستل کېدی شي، خو سره ورته ژبنیزې لارې سره نه لري.

په فارسي کې: مېرم.. او نور، مادرم، ...، او نور

په فارسي کې بیا خاوندوالي هغه نومونو لپاره، چې پاى یې بېغږه توري وى، -م،-ت،-ش پسي تړلي او که پاى یې غږلرونکي توري وي، نو بیا پسې -یم، -یت او –یش پسې تړلي دي.

په پښو کې: ځم، ځو، ځي، ځی ... او ور خو موږ مې (دې، یې) په پښتو د کړنوي پسې، م،ې، ي تړلي او د خاوندوالي نومځاینیوو پسي بیا مې، دې، یې مو د مخه وڅېړل، چې د فارسي بیا د خاوندوالي نومځاى نیوي، ګډ، په دې پوهېدنه چې مې، دې د پسېځینیوي څخه بیلدي. دا هم وروسته څېړل شوي او سم دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دې يو لامل دا کېدی شي، چې په پښتو کې د ګړنوي اخر کې دا ورسره زياتېدنه دکړنوي پسې تړلی يا سره ويلې شوې شته، خو د خاوندوالي نومځای نيوي خپلواک شته دیٔ او په درې کې دا نه شته يا داسې نه دي.

دا نور نومځاينيوي به د څنګه والي نومځاينيوي وبولو او ګورو، چې د اينکليتيکي نومځاينيوو سره توپير لری.

Enklitische Pronominaاينکليتيکي نومځاينيوي.

يادونه: دا تکرار دی، خو شايد لږ څه نوي ولري، بيا هم که زه سهوه وم بخښنه به وي.

اينکليکي نومځاينيوي يوه کيدنه لري، چې له يوه کړنوي سره ورزيات يا ورسره ونښلي يا ورسره ويلې شي. کړنوی + ځانيز پسې تړی ډېر زيات د خبرو ژبه همداسې په شاعریٔ کې منځ ته راځي. په ډېرو ليکنيزه ژبه کې ترې ډده کيږي يا دا د کړنوي سره يوځای په يو بل کې سره وېلې يا ولې شوي، چې يو نوی ويي منځ ته راوړي چې د دې تړنې سره پرېيوهېدنه هم پوره کوي.

د بېلګې په توګه: اينکليتيکي نومځاينيوي د يوه شي دنده لري، که دا يوه کړنوي سر ورزيات شي.

ګډوله کونه

- کړنويي + ځانيز پسېتړی په وينژبه او ليکنژبه کې مخ ته راځي او همداسې بله برخه يي

- ځانيزمختړي نومځاينيوي يا اينکليتيکي نومځاينيوی + کړنوی، چې دا دواړه به لږ ترڅېړنې لاندې(دلته مې،، تر،، ليکلی، خو ناسم دی. سم يې ،، د ،،) ونيسو.

دا نومځاينيوي، نو څنګه روښانه کړو، چې کوم دي؟

که غواړې عکسونه درته ښايم. که غواړې وتا ته عکسونه ښايم.

د او پورته د مخه راولي سره بيا راغلی، خو پام ورته وکړیٔ. د ما يې لرېکولو ته زړه نه کيوږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کاسوس رېکتوس او کاسوس اوبليکوس کارونه

يادونه: دا لاندې څېړنبرخه نيمګړې ده، خو وروسته په نور ليکنو کې پوره شوې.

کاسوس رېکتوس د نوميز او اکوزاتيو حالت لپاره د اوسمهال لپاره کارول کيږي. يوه ځانګړنه شته او هغه داسې ځانيز نومځاينيوو کې اوبليکوس د الماني و اکوزاتيو ته کارول کيږي. کاسوس اوبليکوس تل کارول کيږي، که يو اديوزېشن په نوم تکيه کوي. ځانګړني په پوستپوزېشنونو کې شته، چې ،، کې، باندې، ته، د پاسه، زيات په رکتوس کې وکارول شي. کاسوس اوبليکوس د تېروخت بڼه کې نوميز حالت کې هم کارول کيږي.

يادونه: دلته دې اندونه سره ګډ شي. دا څېړنه بل ځای کې پوره څېړل شوې.

دا نسبتي وی و پسې ځاينيوی ياپوستپوزېشن ،، ته،، ته يو اوبليک دی. د الماني داتيو ځنګه والي ته انډول دی او له دې سره د پوست پوزېشن په څير د موخه لور (چېرته) دنده لري.

بيلګه: و کور ته ځم.

پرمېز(حالت) باندې (اړيکوی) د انګورو (خاوندوالی حالت) له جنډې (حالت) څخه (اړيکوی) انګورو (نوم) له ځان(حالت) سره (اړيکوی) وتا(حالت) ته (آړيکوی) دروړه.

ګورو، چې دا مې تر اوسه پورې سنترپوزېشنونه بلل، چې ناسم دي او دا پر، په او نور چې راځي، دا د حالتونو مورفيمونه دي، لکه ،،د،، د خاوندوالي مورفيم.

دلته ټول اړيکويونه پسې ځاينيوي يا پوستپوزېشنونه دي.

د موړ ستونځې له ژبې سره چېرته دي؟

موږ په رښتيا په خپله ژبه کې ډېرې ژبلاريزې ستونځې لرو. ما چې خپل څه باندې دوه کاله ليکلی وو، اوس و ما ته په ځانګړې توګه په حالتونو کې ډېرې ستونځې ليدل کيږي، چې په اوسنيو ليکنو کې مې سمې کړې.

ما ليکلي وو: زه باغ ته ننوتم. باغ نوم دی. دا حالت ،،باغ ته،، نه کړوني دی. ،،ته،، پسې ځاينيوی دی، نو بايد چې له نوم څخه د مخه د دې پسېځاينيوي اړونده مورفيم ورزيات شوی وي، چې غونډله سمه شي او هغه د يوه ،، و ،، له نوم سره د مخه بايد

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورزيات شي. اوس به يې سم وليکو: و باغ ته ننوتم. نوره به هم ښه وي، که دا زه ورزيات شي، چې ،، زه و باغ ته ننوتم،،. دوه نورې غونډلې.

پخوا مې ليکلي: باغ ته ننوتم، باغ کې ...، د باغ نه ووتم. دا کليوالي دي، خو معياري يا ښهيي ژبلاريزې ناسمې دي. دا به سمې داسې وليکو: و باغ ته..، په باغ کې...، له باغ څخه...

په دې هکله مې ليکنې شته.

د ما يوه هيله: که هر چا يو څه سم وليکل، خو دا د بل چا لپاره پروا ونه لري او ودې منې او ناسمون يې تل بايد سم شي.

لاندې به کليوالي ليکنې او معياري ليکنې سره يا ښه د حالتونو غونډلي سره په ګډه وګورو:

زه باغ ته ننوتم	زه و باغ ته ننوتم.
زه باغ کې يم.	زه په باغ کې يم.
زه د باغ نه لاړم او نور.	زه له باغ څخه لاړم(ولاړم)
دما سره	له ما سره
په ميز شته	پر ميز باندې شته
ما پورې راشه يا	تر ما پورې راشه
تر ما راشه.	تر ما پورې راشه

انګليسي نوموينه، چې د يوه حالت اړوند دي

بيا او بيا ليکم، تر منځ...، ترمخه، ... او او دا ټول ناسم دي. تر يواځې او يواځې د پسېځاينيوي مورفېشم دى، چې دا پسېځاينيوى يې ، پورې دى او پس.

دا مو هم بايد په پام کې وي، چې پښتو يواځې او يواځې پسېځاينيوي لري او دا دي:

پورې، ته، سره، څخه، کره، باندې، کې، او نور يې تاسو وليکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پښتو او ژبلاريزې ناوړې ستونځې يې

پښتو پنځه زره کلنه ځوانه ژبه ده.
ولې ځوانه؟
په افغانستان کې تر ۱۹۳۰ ز ک پورې د افغانستان رسمي ژبه يواځې فارسي وه. په هغه وخت کې د
پښتنو يوه ټولنيزخوزښت بنسټ په جوړېدو(۱۹۳۱ زک) ، په (۱۹۳۲) د کابل پوهنتون او په(۱۹۳۷ ز ک) کې د پښتوټولنه جوړ شول، په ۱۹۳۶ ز ک کې د سردار هاشم خان د حکومت په دوره کې پښتو دولتي رسمي ژبې ته پورته شوه، سره له دې، چې په هغه وخت کې پخپله پښتنو هم دومره پام ورته نه دی کړی. په ۱۹۶۴ ز ک د لويې جرګې لخوا پښتو سراسري ژبه ومنل شوه او ملې ژبه هم شوه.
له دې څخه داسې برېښي، چې پښتو ژبې د کار وخت- په داسې لړه سويه- له ۱۹۳۶ ز ک څخه بايد پيل شوی وي او قانوني ، د قانون له مخه يې دا په ۱۹۶۴ ز ک بيا ومنل شو، چې په دې وخت کې ورته پښتانه مشران هم داسې لږ را بيدار وو.
سرلښکر يې:
دا خپله دنده بولم ووايم، چې سر لښکر يې همهغه له اول څخه خدای(ج) بخښلی اروابښاد وزير محمد ګل خان بابا وو، چې د هغه وخت د واکوالو سره يې د يوه ورور په څېر اړيکې لرودې، په ژبه او هيواد مين انسان وو او د دې توان يې لاره، چې د اروابناد رېښتين صيب له خبرو يې دا پنځه د پښتو ستوري هر يو اروابناد خبيبې، اوربناد بينوا، اروابناد رښتين، اروابښاد خادم او اروابناد..... روزلي او د وينا له مخې يې سياسي ستر ملاتړ وو، خو سره له دې هم دې ژبې لاتراوسه هغه خپل قانوني ځای په دولت کې نه دی نيولی.

د پښتو ژبې وده

(c) ketabton.com: The Digital Library

له پورته څرګندوني څخه نو همدا لامل دی، چي پښتو ژبه مو په هره پوهنيزه ريښه کي هم پوره ستونځي لري د ژبي تر ژبلار يا ګرامر پوري. د پوهنيزو پوهنتون او د ښوونځي د کتابونو پښتو خونديونه نه لرو، هغه مسلکي ويیونه يي ټول عربي دي، چي پښتانه يي د پوهېدني سره د پوهېدلو ستونځي هم لري، خو دوی هم په هغه وخت او لاتراوسه څه نه کوي يا څه نه شي کولی، پرته له ما څخه، چي د شمېرپوهني څلوېښت کتابونه مي په پښتو ژبارلي او ليکلي د داسي څه فزيک سره، د پښتو د دوه ګرامرونو سره او همداسي څه نورو کتابونو سره، دا چي دا کار څنګه شونی وو، دا به په بل ځای کي وليکم (باور وکړئ او لوړه کوم، چي دا مي د ځان ستايلو له امله نه ليکم، خو د نورو يي و دې کار ته راهڅونه مي موخه ده).

دا هم بايد په کلکه ووايم، چي په داسي حالاتو او دې لړ وخت کي، که څه هم دولتي پوره پاملرنه دومره نه ده ورته شوې، دې ژبې او د هغه وخت دمور ستورو د نورو هغه وخت ځوانانو په مرسته دې ژبي ته پوره کار کړی.

دلته مي – له دې ليکنې سره- هغه بنسټيزه موخه په پښتو ژبه او ورسره لرلو ستونځوبيو کي ده.

د پښتو په ژبلار کي هغه بنسټيزه ستوځي:

زه به د موږ ستونځي په حالت(پېر، کاسوس يا د الملني فال) کي وڅېړم او په نورو برخو کي هم د دې ستونځو لاملونه ورته دي.

دا چي ژبه مو يوه زړه ځوانه ژبه ده، نو ګرامر يي هم بايد د ژبي ځوانۍ ته ورته يا ورسره ځوان وي، دا په دې پوهېدنه چي ژبلار مو له پخوا څخه راته نه دی پاتي - که وي، نو پوره ناپوره به وي- او همدا اوس مو بايد چمتو کړی وي. دا چي خپل ګرامر مو لا تراوسه نه لروده او لږ تر لږه په معياري توګه، نو بايد دا ستونځي مو د نورو ژبو په مرسته اوبی کړې وی، چي هغه زياته ونده په کي فارسي يا عربي ژبي بايد لرودې وی، ځکه چي موږ د هغه وخت ژبپوهان ټولو د هر مسلک هر څه مو بايد له فارسي رانيولي وی او هغه مو څه نومونه همداسي مسلکي ، چي لرو يا لرودل هغه لا د مخه له فارسي- چي د موږ يواځنۍ رسمي ژبه وه – رانيولي وي، نو د موږ د هغه وخت پوهانو ته اړين نه برېښېده يا نه پرې پوهېدل، چي د فارسي د ښه بلدتيا

(c) ketabton.com: The Digital Library

له امله پښتو انډول ورته ولټوي او ومومي. پښتو چې د زده کړې ژبه نه وه، خو نه دا چې نابلده بلکه پردۍ برېښېده. موږ د نورو ژبو په مرسته د پښتو ګرامر هم د پښتو د جوړښت سره سم د پښتو ژبلار ترتیبوو، خو د پښتو د نوې منځ یا میدان ته راوتلو له امله مو د پښتو ژبې سره هم باید ستونځې شته وي، چې هغه بیا د ګرامر په لیکلو کې راڅرګندیږي. په دا وروسته وختونو کې هم، که پرته له عربي مو له نورو ژبو څخه د مرستې اخستلو له امله او د ګرامر د توپیروالي له امله، ګرامري ستونځې منځ ته راځي، چې زه به یې په دې لیکنه کې هغه څرنګوالي ته ګوته ونیسم او همداسې له بلې لورې موږ د پښتو ژبلار یا ګرامر د نورو پښتو ژبپوهانو له ژبلار څخه رانیسو او هغو دا کار ځکه سم نه شي کولی، چې دوي پښتو زده کړې، بې له دې، چې سم یې و ژبلار ته ورننوځي. د دې څرنګوالي ته به هم ګوته ونیسم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په پښتو کې د حالتونو یا پېر سره لرلې ستونځې

پیل یادونه (ځان ستاینه نه ده، خو اړیین راته برېښي، چې هرڅنګه وي لږ تر لږه ستاسو پام دې دما لیکنو ته راواړم): ما له ښوونځې څخه را په دیخوا له پښتو ژبې سره زوره مینه لروده او اې چې په څلورم ټولګي کې - دامې په یاد دې، چې - د بېګانو سره بلد وم او نږدې دا اخر شپاړس کاله مې په ژوره توګه د ژبې سره کړونی کار پیل کړی او دا هره ورځ ډېر ساعتونه، چې لاس ته راوړنه یې د دوه ژبلار کتابونو لیکل وو، په ژبه کې سمونونه (هغه وییونو ته کتنه شوې، چې موږ یې ناسم کاروو، دا له سلنې څخه نیولې، چې په پښتو ژبه کې ځای نه لري، تر اوبلن پورې، چې د ،، بهیدونکي،، په ځای یې ډېر ناسم کاروي او دا چې د سویي او معیار لپاره کچه کارولکیږي، دا مې باید باور وي، چې د موږ لیکنوکي څوک یا ژبپوهان نه پرې پوهیږي او دا سې نور هم). د دوه ژبلار کتابونو سره مې ژب اړوند اته کتابونه لیکلي په ketabton.com کې یې ګران لوستونکي لوستلی شي او دا مې هیله هم ده، چې که دما لیکنې سمې نه وي، نو ......

اوس هغه ما ژبلاریزې لرلې ستونځې:

بېلګه په همدا له حالتونو څخه راوړو:

موږ لیکو: د هغه نه، د هغه څخه، له هغه څخه او

د هغه سره، له هغه سره.

ما په ،، له ...څخه او د... سره،، باندې یوه ستره لیکنه وکړه، چې دا مې په همدې دوه ډوله ناسم ولیکل، چې ګوندې دا یو دې ،، له،، سره وي او دا بل دې له ،، د ،، سره وي.

دا تر هغې پورې راته سمه برېښېده، چې پوه شوم دا ، د ،، د یو مورفیم په توګه د یوه نوموي (نوم، نومځاینیوی) سره راځي، چې د هغه واکوالی ښایي، له دې پوهېدنه داسې ده، چې ،، د ،، د خاوندوالي مورفېم دی، لکه د هغه کتاب یا همداسې د سپین کتاب، نو دا را ته له هغې څخه وروسته سم برېښېده او پسې بیا په دې اند شوم، لکه د موږ ټول ژبپوهان تراوسه پورې، چې دا له... څخه دی، دا په دې پوهېدنه، چې دا یو سنترپوزېشن دی، په دې پوهېدنه چې نوموی یې په منځ کې راځي او د موږ ټول ژبپوهان یې ،،سربل او

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوسترېل بولي،، ، چې زه په رښتیا نه پرې پوهېږم او نه مې چېرته ولوستل، چې ولې.

دا باید ووایم، چې د موږ ټول پوهان او همداسې ژبپوهان هم ډېروخت د یوه څه پوره پېژند نه ورکوي او هغه کاروي، چې دا مو هم یوه بنسټیزه ستونځه ده.

اوس هم داسې انګېرل کیږي، چې هغه د انګرېزې from او الماني von لپاره موږ د پښتو انډول ،، له،، بولو یا داسې شاید کله، کله ،،څخه یا نه ډېر کم او که وي، نو له دباندنیو ژبپوهان څخه به ،، له...څخه،، او له ما څخه هم زیات ،، له... څخه،، لیکل - یا بلل شوی وي، چې ،،دما،، وروسته، چې دا د ما میندنه ده، لږ ګوته ورته ونیول شي او لیکنې پرې یو څو لرم، چې د کتلو وړاندیز یې کوم، چې دا په ژبه کې راته د ما یوه ستره لاس ته راوړنه هم برېښي.

له دې سره مې باور دی، چې موږ د پښتو ژبې د دې اړخ ستونځوبیو لار میندلې وي، چې ګران لوستونکي دې هیله ده په غور ولولي،

موږ په پښتو ژبه کې لرو: موږ نومځاینیوي لرو: زه، ما، ته ، تا، هغه، هغه او ... نور او دا په همدې څېره یا په همدې ډول په حالتونو کې د کړونو او پرېکړونو او همداسې نه کړونو لپاره، دا په رد بدله بڼه کارول کیږي، لکه: ته ما وهې، تا زه ووهلم.

په نورو حالتونو کې باید یو څه بل ډول وي (پسې روښانه کیږي، خو دا پوره ژور دما په - همدې هکله - لیکنو کې پوره روښانه شوي).

دلته دی، چې د from او von انډول ،،څخه،، دی، نه ،،له،، او همداسې نه ،،له ... څخه،،.

په دې کله وپوهېدم یا مې کله ورته پام شو؟

کله مې چې دې ته پام شو(وپوهېدم؟؟؟ دا دې لا د تاسو تر مرستو پورې وي)، چې پښتو دوه حالتونه رېکتوس او اوبلیکوس لري او همداسې کلیتیکي (تر دې وخته پورې مې هم اینکلیتیکي لیکل) نومځاینیوي، نو وپوهېدم، چې دا ،، له، تر، په، پر،، او نور خپلواکه پرېپوهېدنه نه لري او د نومویونو سره یوځای راځي د اړوند حالت لپاره، چې هغه حالتونه یې، چې دا یې د نومویونو سره راځي، اوبلیکوس حالتونه دي، چې بې له دې هم ناسم دي او دا ځانله ما،

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه، تا ... او نور یواځې هم په هغو حالتونو کې کومه پوهېدنه نه لري. دې ته به هم وروسته ګوته ونیول شي.

ولې باید دما خبره سمه وي؟

د ټولو په سر کې:

دا پوښتنه هم ځکه لیکم، چې د ما دا لیکنې به د موږ په ژبلار کې د لومړي ځل لپاره وي، نو وبه اندم، چې ناسمونونه یا لږ تر لږ د ځنو ادیبانو څه شننیز ګومانونه به ورته پیدا وي، چې دا باید د خبرو له لارې اوبی شي.

یو څه چې د هغه لیکنو په هکله پر پوهنه باندې ودانې لیکنې وي، نو تر هغې پورې سمې دي، تر څو پورې یې چې ناسمون پوهنیز نه وي ښوول او روښانه شوی وي.

د دباندنیو ژبو او د دباندنیو پښتو ژبپوهانو ډېرې ګټې او دا د موږ غوندې لرلې ستونځې.

موږ چې په هره ریښه کې یو څه زده کوو، نو بې له یوې وتلې دباندنۍ ژبې پوهېدنې ځخه دا کار ناشونی دی، که دا ژبه هم وي. له بلې ژبې ځخه موږ پوهنیز نومونه هم زده کوو.

چې داسې وي، نو د موږ د ژبې په ریښییزو لیکنو کې ولې تول ریښه اړوند شیان وییونه او نومونه مو د بېلګې په توګه پښتو نه دي؟

د مخه مو دې ته ګوته ونیوه، چې ژبه مو ځوانه ده او د موږ مسؤلو کسانو ته دا د عربي نومونه داسې بلد پرېښېدل، چې په پښتو یې زیات نه پوهېدل او یا ورته اړیین نه برېښېدل او یا یې په کې ښېخي فکر نه کاوه، دا چې ولې ډېر نور لاملونه هم لري. دوی ورسره اړیین د خپل پښتو وي په څېر بلد وو. دا حالت تراوسه پورې ځکه داسې دی، چې هغه ډېر د لیک لوست خاوندان مو لا تراوسه په همهغه ډول روزل شوي او دا خپله ژبه ورته پخپله یا دومره پوره نه برېښي او اندې، چې دا یې د ژبې وي، خو دې ته فکر نه کوي، چې د خپلې ژبې وییونه یې له منځه ځي. ژبه غزونه سمه ده، خو نه د خپلې ژبې وییونو پرېښودنه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژبلاريزې ستونځې هم په همدې توګه. مورږ د نورو ژبو په ژبلار يا نورو ژبو نه پوهېدلو، او د همهغه له فارسي ياعربي ژبې له ژبلار مو ګټه اخستې، چې هغه بيا د مورږ د ژبې له ژبلار سره ډېر توپير لري.

بخښنه. ليکنه را څخه غزيږي. اوس بېرته وموخې ته.

مورږ له دباندنيو پښتوپوهانو څخه - دا اوس دما ورته پام شوي- پښتو ژبلاريز څه هم زده کوو. دا چې دوى يا نور ژبپوهان يې په نورو ژبو پوهيږي او په هغو کې لولي، نو د پښتو سره غبرګ (هغه غبرګ يا غبرګون، چې د مورږ ژبپوهان يې د څه موخې لپاره ليکي، ناسم دى) ګرامري توکي له هغو ژبو رانيسي. ما هم له همغو ژبو دا وماته تر اوسه پورې نا څرګند ژبتوکي لکه چې ژبه مو دوه حالتونه، رېکتوس او وبليکوس لري، زده کړل او همداسې کليتيکي نومخانيوي، چې په مټه يې ليکنې اوس تاسو سره په دې ليکنه کې شريکوم.

هغوى هم د پښتو سره دا ستونځې لري، چې له von څخه ،،له،، پوهيږي، چې نايم دى. لنډ دا مورږ ورسره نابلدو کارولو سره دوي هم بايد نابلد وي. دوي ژبه بايد له مورږ څخه زده کړي، خو دوي د خپلو ژبو کره ژبلار لري، خو پښتو بيا دوي داسې کله بېرته ورکولى شي، لکه پښتانه ژبپوهان.

دا دمورږ ستونځې به اوس بيا داسې لنډ سره وڅېړو:

و حالتونو ته مو په دې لاندې لښتکي کې پام کړى:

حالت	الماني	پښتو
کړونى	***Ich*** schlage dich	زه تا وهم (۱)
پرې کړونى يا نه کړونى	Ich habe ***dich*** geschlage Ich=Nominativ; Dich= Akk.	ما ته ووهلې
	په پورته کې دواړه وختونو کې Ich کړونى دى او dich پرېکړونى	پورته :زه او ما کړونى تا او ته پرې کړوني
د خاوندوالي	Mein Buch	د ما کتاب (۲)

(c) ketabton.com: The Digital Library

حالت

اکوزاتیوMich	Du hast ***mich*** geschlagen	تا زه ووهلم(۱) په دې غونډله کې د الماني اکوز. د پښتو پرېکړونی دی.
دنه کړونیحالت	Von mir	له ما څخه (۳)
اکوزاتیوMich	Für mich	د ما لپاره (۴) دلته اکوز. د پښتو د خاوندوالي حالت دی.

دا دوه که له پیل څخه دا څلور حالتونه.دلته د هر حالت لپاره یوه غونډله راوړل شوه، چې اوس یې لږ څېړو:

د پورته اړونده لښتکیو داسې لږ روښانونه:

له (۱) څخه: ګورو، چې په پورته اړونده پرتو لښکیو کې په الماني یو کړونی او یو اککوزاتیو حالت دی. دا په پښتو کې دوه د بېلو وختونو سره اړوند او همداسې دوه پرېکړوني، خو د ردبدلېدنو سره. که ،،زه،، کړونی وي، نو پرېکوړنی یې بیا په دې حالت کې ،،ما،، دی او که کړونی ،،ما،، وي، نو پرېکړونی یې ،، زه ،، راځي.

یوه بله غونډله: دلته ګورو، چې د یوې ژبې یو څه په بله ژبه څومره ګرامري پوهېدنو له امله ستونځې لري.

بېلګه: I love you; Ich liebe dich ته و ما ته ګران (ه) یې. په انګرېزي کې څه نه وایم، ځکه نه پرېپوهېږم، خو دا په پښتو کې سوچ بوچ بل ډول یا بل څه وایي: ،،ته ګران یې،، پرېکړونی دی و یو چا ته او هغه ،، وماته،، دی، چې دا د نه کړونی حالت دی. دا چې څوک یوه پردۍ ژبه پخپله ژبه ژباړي، نو ستونځې ځکه په کې راځي، چې د هغې بلې ژبې ژبلار سره بلد نه وي. لکه چې، که درې ژبې غواړي – من ترا دوست دارم – په پښتو ووایي نو د پښتو غونډله – ته و ماته ګران یې – نه وایي، هغه فارسي ټکي په ټکي پښتو ته اړوي او وایي، زه تاته دوست لرم.

د حالتونو پرتله:

په الماني کې لرو: ich; mein; dich; dein

په پښتو کې انډول به نه لیکو، خو وبه لیکو: په پښتو کې لرو: ما، دما، په اینکلیتیکي (په پې راتلونکي، ټینګار پرې شوي وی پسې تکیه) را، چې نورې برخې یې: (را (در، ور) = (له ما، په ما، پرما، او نور). په لښتکي کې روښانه شوي.

د دې د نورو روښانونو لپاره دې د ما لیکنه په تاند کې ،، Klitikum = تکیه اړ نومځاینیوي ،، سرلیک لاندې او په دعوت خپرونه کې د ،، تکیه اړ نومځاینیوي ،، لاندې لوستلی شی.

دما د کتابونو لیکنه له الماني ادبیاتو څخه ده، خو له هغې څخه تل نوي څه د پښتو لپاره زده کوم یا ښه یې: په پښتو کې میندم. هغه ستونځې، چې دا له څه وخت څخه را په دې خوا مې پام ورته راګرځېدلی، هغه دا دی، چې پښتو یواځې پسځاینوي(Postpositions) لري.

دا چې د موږ ستونځې د پښتو ګرامر کې شته، د ما په اند هغه ډېرې یې په حالتونو کې دي. ما هم په دې ډېر کار کړی، خو زړه مې لا صبر نه کوي. دا به اوس په یوه لښتکي کې هم روښانه کړم. بیا به یې لاس ته راوړنه وړاندې کړم.

ما په تېرو لیکنو کې د اینکلتیکي نومځاینیوو په هکله څېړنه کړې وه او په مټه مې دا ښوولي وو، چې په پښتو کې یواځې پسځاینیوي شته.

دا چې پښتو یواځې پسې ځاینیوي، لاندې لښتکی باسو:

پروکلیتیکي نومځاینیوي	حالت اړوند نومځای نیوي	پسې ځای نیوي
را، در ، ور =	له ما، له تا، له هغه او....	څخه، سره، کره، پسې،...
-- =	تر ما، تر تا، ...	پورې(۱)
-- =	پرما، پر تا. ..	پورې(۱)، باندې
-- =	په ما، په تا، په هغه،.....	کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

= -- وما، وتا، ته
وهغه..

یادونه: دا پروکلیتیکي د مخه اینکلیتیکي بللي وو.
که نور څه پورته لښتکي ته ورزیاتېدی شي، نو وړاندیز یې وکړی.
(۱) پورته لومړنی ،،پورې،، پوله په ګوته کوي او نه ور اخوا. لکه د شپین تر کور پورې.
په دویم ،،پورې،، کې دا د یوه څه پورې نخښتی څه دي. لکه پر کمیس پورې نخښتې ختې.

په لښتکي کې دوه څه د غور وړ دي:
لومړی: دلښتکي لومړی ولاړه لیکه له دویمې ولاړې لیکي سره برابر یا برابرارزښته دي،
له دې څخه دا غوره لاس ته راځي، چې یوه د دې لیکنې د اصلي موخې لاس ته راوړنه او هغه دا چې، له، تر، پر، په او نور خپلواکه پوهېدنه نه لري او یوازې د نوم یا نومځاینیوي سره د اړونده پسې ځای نیوي سره غونډاله غوره او موخه ور رول لوبوي. دا نومونو او یا نومځاینیوو سره یوځای د اړونده حالت هغه دا ورزیات نومځاینیوی جوړوي یا د حالت اړوند نومځاینیوی او که څنګه یې وبولو، دا نوم د مشورې دی.
دویم: د لښتکي په دریم ولاړه لیکه کې پسېځای نیوي دي. دلته مو وښول، چې پښتو یوازې پسې ځاینیوي لري او بس.
زه لږ سترې شوم، خو که د خبرو درته برېښي، راخی، چې سره سم یې کړو او وړاندیزونه وکړو، چې څه په کې د کار دی.

ډاکتر ماخان میړی شینواری

کوم سم، ناسم او ولې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه بېکاره یم(بېکاره نه یم، خو څه کار نه لرم)، له دې امله چې د اند سره ناسم څه وګورم، نو څه پرې لیکنې ته یې ځان اړ بولم.

لاندې پوښتنه کې سم او ناسم څنګه مومو؟

کوم سم، ناسم دی او ولې؟

۱ – سبین د طالبانو له بند تر ازادیدو وروسته

۲ - سبین د طالبانو له بند څخه د ازادېدو وروسته.

۳ - سبین د طالبانو د بند له ازادېدو څخه وروسته.

و ۱ – ته: ناسم، ځکه چې: دلته له مورفیم ،،تر،، څخه څه نه پوهېدل کیږي او ،، تر ،، پرته له نوم یا نومځای نیوي، څه نه وایي یا څه ور څخه نه شي پوهېدل کېدی. په دې هکله مې ډېرې زیاتې لیکنې کړې.

۲ - سبین د طالبانو له بند څخه، د ازادېدو وروسته.

و ۲ – ته: پرېکړه پسې: که ،،رووف د طالبانو له بند څخه وروسته،، وی، خو سمه به وی. دلته نو بیا په

،، ...د ازادېدو وروسته،، ، دلته هم دا ،، د ،، د خاوندوالي مورفیم دی او په دې وېینبرخه کې سم نه دی، دا څنګه باید وي؟

له ازادېدو څخه وروسته، دا بیا بېرته دا لیکنه ناسموي.

له دې امله ۲ – ناسم. نو

۳ - سبین د طالبانو د بند له ازادېدو څخه وروسته.

و ۳ – ته : ولې باید سم وي:

ځکه چې دا بند د تالبانو دی او نور نو ،،له ازادېدو څخه وروسته،، سم دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بله بېلګه: د سپینغر د کور له لېدلو څخه وروسته

راځی، چې و دې ته نور هم په ګډه پام وکړو.

په ژبه کې د سم او ناسم ښوونه

د م ک ملګرو څخه مې دا لاندې پوښتنه کړې وه:

روزه مو نېکمرغه.

کوم سم دی او ولې؟

١ – یما، یتا، د هغه

٢ – زما، ستا، د هغه

٣ – د ما، د تا، د هغه

دلته یې ځواب

له ټولو راته ګرانو د م ک ملګرو لوي څښتن مو راته روغ لره. د دې به بخښنه کړی، چې ستاسو یو اند او د ما بل اند دی.زه به دا خپل اند داسې روښانه کړم:

مور د یوځه د روښانه کولو یا د سم ښولو لپاره دا دوه غوره دښوونې څه لرو.

ژبه پیداېښتې ده، نو ښوونه به یې په پیداېښتوالي کې څېړو

-- پیداېښتوالی

-- تولیزوالی(که یو څه پیداېښتې نه وي). ځنې ښونې چې کیږي، د هغه غوښتونې د تولیزوالي په بنسټ کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

-- بل ډول ځوابونه یا ښوونې هم شته، چې هغه دلته بیا سیده او ناسیده ښوونې دي، چې ډېر نه پرېغږېږو.

-- پیداښت کې تل پیداښتي لارې شته، چې له هغو څخه هر څه روښانه کیږي. دا چې ژبه پیداښت دی، نو هرو مرو باید د هر څه لپاره یوه لار ولري.

-- موږ خو دا درې ډوله کلیوالي ویېنې لرو. دا خو درېواړه د پیداښتي ژبلارې له امله سمې نه وي او که غواړی معیاري نه وي.

-- د ټول د م ک ملګرو ځوابونه ورځني وو او ځنې وايي، چې د پښتو ټولنې د پرېکړې سره سم دي.

-- دا چې زیات کسان دې دویم ته سم وايي، نو هرو مرو دې دا سم هم نه وي، که ناسمون یې ښودلکېدی شي.

-- دا چې کومه ټولنه پرېکړه کوي، دا به ووایم، چې دا هم لار نه ده. که ژبه پیداښت وي، نو باید د سمون لپاره یې پیداښتي لارې شته وي.

-- غواړم دا وښایم، چې دریم سم او ژبلاریز دی. ولې؟

-- موږ پوهیږو، چې ،، د،، د خاوندوالي یا اړوندوالي مورفېم دی، نو له دې امله دریم ژیبلاریز سم دی.

-- ټولیزوالی: د دې دلیل راوړل نور اړیین نه دي، خو په زیاتو پوهنو کې دا هم د غوره دلایلو څخه راوړل کیږ، چې د پیداښت سره همغږی دی. نو که داسې وي، دا د ،، د ،، خاوندوالي مورفېم له امله دا ټولیز هم دی او په ټولو کې دا ګډ هم دی.

-- یوه ښوونه یا یو دلیل تر هغې پورې سم دی، تر څو یې چې ناسموالی یا په بل ډول مخامخوالی نه وي ښوول شوی. دا پوهنیزې لارې چارې دي. له دې همداسې پوهیږو.

رابه شو اوس سیده ناسیده ښوونو ته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

-- سیده ښوونه: ۳ –م سم دی. دا به ښایو. ومو ښوول، چې ۳ –م څواب دپیداپښت سره سم دی او همداسې تولیز دی

-- ناسیده شوونه. که موږ وښایو چې ۳ - م ناسم دی، نو باید ۱ – م یا ۲ –م سم وي.

دا د پورته دواړو پیداپښتي او تولیزوالي ښوونو سره مخامخوالی دی، نو دا ناسم دی او ۲ – سم.

دلته مې تاسو لړ د شمېرپوهنې ښونو سره هم ستړي کړی.

هیله ده، چې مرسته وکړی، چې یوې لاس ته راوړنې ته راشو.

دلته دې بیا هم رېکتوس او اوبلیکوس ته پام وي او یو بل

اینکلیتیکي نومځاینیوي:

پیل یادونه: د دې سرلیک لاندې مې اینکلیتیکي او پروکلیتیکي یو ځای راوړي، چې په پیل کې مې لا نه وو میندلي. بل ځای کې مې سم لیکلي) د پښتو ژبلار حالتونو کې بل ډول یا اینکلیتیکي نومځاینیوي هم غوره رول لوبوي، چې دلته به یې وڅېړو.

پېژند: اینکلیتیکي نومځای نیوی یا پسې تړلې یا نښتي نومځاینیوي

-- مې، مو ، دې ، یې او

همداسې

-- را، ور، در دي، چې په دې توګه کارول کیږي:

مې، مو، وې، یې په ولاړ یا کړوني حالت کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

-- کتاب مې(مو، دې، يې) واخست

په ولاړ نه اينليتيکي حالت کې

-- ما(تا، هغه ....) کتاب واحست

په پراته يا د خاوندوالي حالت کې

-- کتاب مې(دې، مو، يې) شين رنګ لرې

په خاوندوالي نه اينکليتيکي حالت کې:

د ما (د تا، د هغه....) کتاب شين رنګ لري.

يادونه: له پورته بېلګو ښخه راته جوتيږي، چې ،، د ،، د خاوندوالي مورفېم دی.

په پراته حالت کښې

پروکليتيکي نومځاينيوي بولو: دا نومځاينيوي را، در، ور

-- را(در، ور) ښخه(سره،کره، کې، باندې، پورې، ته)

په نه اينکليتيکي - يا دا اوس په پروکليتيکي نومځاينيوو په بنسټ دې حالت کې لرو:

-- له ما (له تا، له هغه....) ښخه (سره، کره)

-- پر ما (پرتا، پرهغه،...) باندې باور وکړه.....؟ ...

-- تر ما (تر تا، ترهغه،...) پورې ځان راورسوه....؟ حالتونه bis zu mir

-- پر ما پورې خاورې نخښتې . .....؟.... auf mich

(c) ketabton.com: The Digital Library

-- پر ما باندې

-- پر ما پسې

-- په ما(په تا، په هغه.....) کښې .

يادونه: په پورته دوه غونډلو کې دا،، پورې،، پسېځاينيوی د ،، تر،، او ،،په،، سره راغلی. دلته يې نو توپير بايد وي او هغه څه دی؟ که په الماني يې واړوو، نو داپه بيلو حالتونو کې راځي.

همداسې ،، په ... پورې،، او ،، په ... کې،، دا دې هم سره توپير شي، خو د دوي توپير داسې دی، لکه،، د له...څخه، -... سره آو ...،،

يادونه: دا،، تر،، د موږ ژبپوهان او ليکوالات ډېر ناسم کاروي. دا بلځای کښې ناسم دی.

-- وما(وتا، وهغه،...) ته. ومخ ته. و شا ته.

يادونه: له پورته څخه دا راته روښانه يا جوتيږي، چې له، په، پر، و، تر په ډول جونونه يا کارونه يا څه ور څخه پوهېدنه نه لري او د اړونده حالتونو مورفېمونه دي.

د را، در، ور مې بيا خوب په لغته وواهه:

لرو: له کړنوييونو سره: اخستل، وړل: را (در، ور) يو څه واخسته(ونيوه، پورته کړل،) همداسې را-،در-،وروړل، - د کړنويي له نورو بدلونونو سره - او داسې نور هم.

پام: په پروت حالت کې دا کړنويي ،،وړل،، يو لوريزوال کړنويي دی او چېرته چې وړل کيږي يو ټاکلی ځای دلته، دغلته او هلته يا يو ټاکلی چېرته په نخښه کوي.

-- که پوښتنه کړو، نو: چېرته وړي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

که پوښتنه وکړو، چې: چا کتاب راواخسته، نو ځوابې

-- ما-،تا-،... هغه کتاب راواخسته

یادونه یا پام: دلته دې په ټول ګرامري اړوندوالي فکر وشي. که نومونه، نومځاینیوي یا لنډ کړوني هم ورسره وي، دا را، در، ور ورسره راځي.

-- په دې هم پام وشي، چې دا څه ډول کړنوییونو سره راځي.

-- له دې کړنوییونو سره حالت کړونی دی، چې ما، تا ...او همداسې مې، دې، یې کتاب را-، در- ، ورواخست، دروور.

ستونځې: په کومه ژبلاریزه ډله کښې راځي او ولې:

-- کتاب مې واخست

-- کتاب مې را(در، ور) واخست.

-- ما کتاب را(در، ور) واخست.

-- ما کتاب وتا(وما، و هغه) ته واخست.

-- ما کتاب وتا(وما، و هغه) ته را(در، ور) واخست.

نه پوهېږم، چې په هکله یې څه لیکل شوي او که؟ که وي او راسره ګډ مو کړل، نو ډېره نېکي به مو وي.

د ما په اند به دا را-، در-، وراخستل به د ورسره ویلې شو یا اینکلیتیکي نومځاینیو سره خپلواک کړنوییونه جوړوي.دا د ژبې سره مرسته اړیینه راته برېښي. که کار پرې شوې وي، هیله ده راسره ګډ یې کړي.

که ولرو: دما(د تا، د هغه...) لپاره؟؟؟؟؟؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

دلته یو ډول ستونځې شته: که دا کوم حالت وي یا حالت وي، نو له دې سره دا اینکلیتیکي نومځاینیوي نه راځي او که په الماني انډول ولیکو، ټیک داسې ده: für mich, für mein Herz او دا په الماني کې د اکوزاتیو حالت یاځنګه والی دی.نور یې: auf mich, auf mein Kopf او نور. پښتو یې : پر ما باندې، د ما پر سرباندې.پر سر باندې، پرمیز باندې ، د میز پرسر باندې... ګوری.

د الماني غونډلي د الماني په څلورم یا اکوزاتیو حالتکې، خو د پښتو غونډلي د خاوندوالي په حالت کې. د ژبو ژبلاریز توپیر هم پیداپښتي دی.

د پښتو ستونځې او ستونځوبې

د پښتو ستونځې چېرته دي؟

د پښتو ستونځې د نورو په څنګ کې (،،ترڅنګ،، ناسم دی) د مورړ د دباندنیو ژبو څخه رانیونه کې......

--- دا زیاتې ستونځې په حالتونو او پسې ځاینییو کې (وبه ګورو، چې پښتو یواځې پسېځاینیوي لري).

ستونځوبې یې په دې کې دي، چې مورړ بایدله باندنیو ژبو څخه د لارو میندلو په هکله ګټه پورته کړو، خو د خپلې ژبې ژبلارې د لاري په بنسټ بیا خپلې ستونځ اوبی کړو.

هغه سترې برخې، چې د ما په اند مو دستونځو سره مخامخ کوي، یوه یې حالتونه دي او بل مخ-،پسې – یا سنترځای نیوي، چې وبه ګورو مورړ یواځې پسې ځاینیوي لرو او بس. دریم یې کېدی مختړي او ورستړي یاپسېتړي وي، چې زه ډېر څه په کې نه لرم.

دا چې زه په الماني پوهېږم او دري، نو داسې لړ به بیا پښتو له دې ژبو سره پرتله کوم او په مته به یې خپلې ژبې ته سم څه په خپله ژبه کې لټوو او دا چې ژبې پیداپښتي دي، نو هرو مرو د هرې ژبې انډول په هغه خپله لار یا ژبلار شته. په دې هکله مې پوره لیکنې کړي، خو بیا هم:

لومړی: په لومړي پل کې به د الماني حالتونو ته پام راوګرځوو: په الماني کې څلور حالتونه یاځنګوالي شته، چې بې له شننې او یواځې بېلګې ورکوني سره به بسیا ومنو.

١ : نومیناتیو: زه راغلم. زه خورم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په نومیناتیو یا نومیز یا کړوني غونډلو کې مو دوه ډوله – وخت اړوند- ؟؟؟؟ کړوني زه او ما سره بدلیږي. کړنبدلونونه لرو.

-- هغه چې دا نومیناتیو زه او ما یې په اوس او تېر مهال بدلیږي: دا هغه وییونه دي چې ته یو څه کوي او پرېکړوني (او که نه کړونی؟؟) ته اړتیا لري یا پرېکړونی لري.

زه ډوډی خورم. ما ډوډی وخوړه.

زه لرګی رااخلم. ما لرګی راواخست.

زه لرګی وهم. ما لرګی وواهه.

-- هغه چې په نومیناتیو غونډلو کې یې زه په ما نه بدلیږي: هغه غونډلې چې نومیز کړوني ته اړتیا نه لري یا پرېکړونی نه لري. ؟؟؟ ترانزیتیو او اینترانزیتیو،، ؟؟؟ کې دې پام وشي؟؟؟

-- زه راځم، زه راغلم.

-- زه ودرېږم. زه ودرېدم.

۲ – پرېکړونی: دا په یو څه یا چا څه کیږي..................

مرسته !!!

--- په را(در ور) څخه(سره، کره، پورې، ته، کې، باندې...) کې دا را، در، ور اینکلیتیکي نومځاینیوي دي، چې د پروت حالت یوه حالت په نخښنه کوي او دا ټول د الماني ژبې داتیو حالت ته ورته دي.

--- په تلل کې، که د تلل په ځای راتلل ولیکو، نو لیکو چې: زه راغلم، ته راغلې او هغه راغی،...

ګورو چې دلته –غلم،--غلې،--غلي او همداسي را، در، ور په دې وییونو کې څه پوهېدنه نه لري، نو لاس ته راوړنه به دا وي، چې دوی یو د بل مختړي او ورستړي دي یا به دا ووایو، چې دا راتلل، ... یو خپلواک کړنوی دی او دا راغلم او نور یې بدلونونه دي، نو

(c) ketabton.com: The Digital Library

له دې څخه باید داسې وپوهیږو، چې دا باید د هغه حالت د را، در ، ور سره بدل نه شي.

دلته دې ګران ژبپوهان او نور مینه وال مرسته وکړي، چې همداسې یا بل ډول باید و ښوول شي یا ونومول شي.

پروت حالت

په پښتو کې اوبلیکوس – یا پروت حالت لرو، کله چې نوم او نومځانیوی سره اړونده اډپوزېشن ـ (که پسېځانیوی یاپوستپوزېشن) ولري.

دا پېژند چې اوبلیکوس اړوند اډپوزېشن(مخځانیوی، سنترپوزېشن او پوستپوزېشن) ولري، خو د ما د څېړنو له مخې پښتو یواځې د اړونده اوبلیکوس حالت لپاره یواځې پوستپوزېشن یا پسېځانیوي لري.

د دباندنیو ژبو څخه داسې شنني لرو، چې نوموېي اوبلیک حالت کې دی، که اوړوند یې یو اډپوزېشن ځای شوی وي.

دلته دې ته اړتیا شته، چې وګورو، اړونده حالتونه کوم اډپوزېښنونه لري.

ما په خپلو لیکنو کې دا ښوولي، چې موږ د اوبلیکوس یا پروت حالت کې یواځې پسېځانیوي لرو.

د دې ښوونو له مخې، چې پښتو ژبه اډپوزېشنونه له ډلې څخه یې سنترپوزېشنونه ولري، نو موږ به په لاندې غونډلو کې

له ځلمي څخه (سره،کره)

تر تا پورې

په کور کې

اونورو

که ولرو: له ...څخه(سره، کره) ، په... کې. تر... پورې سنترپوزېشونه وي، حو دا مختړي یې د نوموېونو اړونده مورفیمونه دي، چې خپلواک څه ترې نه پوهېدل کیږ. او دا د نوموېونو پسې چې راځي، پوستپوزېشنونه دي.

مختړي، وروستړي، سربل او وستربل(زه په رښتیا نه پرېپوهېږم)

(c) ketabton.com: The Digital Library

غوره ستونځې

په پښتو ژبلار - ژبه کې دمور غوره ستونځې او د ټولو ژبپوهانو، ژبپوهاندانو، ژبمينه والو او ليکونکو ستونځې څه – او کومې دي؟

دا ټولې ستونځې، چې بنسټيزې دي او تراوسه ورته چا پام نه دی کړی، هغه حالتونه يا ځنګه والی او کهغواړي اړيکوييزې ستونځې دي، چې پهپښتو کې نه – نهښپړی څېړل شوي او يا نه سم ترپېوهېدلي. دامې زياتې روښانه کړي او اوس به يې هم داسې لنډې په ګوته کړم.

د ما مېډنې: په لومړي سر کې مې دی ته پام شو، چې د پښتو په حالتونو کې مور يواځې پسېځاينيوي يا پوستپوزېشنونه لر. اوس مې د لومړي ځل او لومړي کس په څېر دي ته هم فکر شو، چې پښتو يواځې دا داسې وروسترې يا پسې ترلې يا نښلول شوي لري، خو مختړي هم نه لري. دا خو د ما له لورې داسې لړ زياتی هم برېښي، خو داسې ده.

لکه – وال: ليکوال، غروال، کوټوال او همداسې. ليوالتيا، زړورتيا، سپينوالی، تورروالی. دا چې کوم يې له کومو ژبتوکو سره راځي، هغي ته دې ګرانلوستونکي هم پام وکړي او زه به يې هم وليکم.

ډاکتر ماخان مېرى شينوارى

د پښتو ځنګه والي، پېر يا حالت ته د مشورې لپاره.

دا ځنګه والي (پېرونه،حالتونه) د پوښتنو په مرسته په لاندې توګه روښانوو:

١ – نوميز ځنګه والی:(څوک، چا)، (څه)

٢ – د خاوندوالي ځنګه والی: (د چا، د څه)

٣ - داتيو ځنګه والی: ا - (له چا) ، (له څه)،ب - (وچا)،(وڅه) پ – (په چا، په څه)، ت - (پر چا، پرڅه)....

دلته دې پام او خبرې پرې وشي، چې دا ځنګه ونومو، يا نومول شي(که وي) . دې نورو کې -ګومان مې دی- ستونځې نه شته.

۴ – اکوزاتيو ځنګه والی: (چا، څوک، څه)

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګورو، چې ۱ – او ۴ – یو ډول دي، څو ۱ – د کړوني په ځنګه والي او ۴ – د پرېکړوني یا نه کړوني په ځنګه والي کې دي.

پوښتنغونډاله جوړوو:

څوک له چا سره د چا له کور څخه د چا وکور ته لاړ او په څه کې پر څه باندې څه یې د څه پرسر کېښود؟

(سپین) «۱» (له تور)«۲» سره (د تور) «۳» (له کور)«۴» څخه (د ځلمي)«۵» (وکور) «۶»ته ولاړ او (په کوټه)«۷» کې (پرمېز) «۸) باندې (کتاب)«۹» یې د چوکۍ (پرسر)«۱۰» باندې کېښود.

د الماني ژبلار له مخې به «۱» نومیز، «۲»، «۳»،«۴»،«۵»، «۷»،«۶»،«۸»او«۱۰» داتیو، «۳»،«۵» واکوالي او «۹» اکوزاتیو حالتویونه یا پېرونه او که غواړۍ حالتنه دي.

دا پورته پېرونه یا حالتنه په پښتو: ۱ – په پښتو کې رکتوس یا کړونی حالت دی او دا نور تول اوبلیکوس یا پراته، ژوړند یا ښهیې: نه کړوني حالتونه دي او نور.

که تول سره مرسته وکړو او دا پورته سره همغږیز کړو، نو زما په اند به مو د پښتو ژبې یو څه ستونځې اوبی کړې وي.

یادونه: ما چې دا پورته د حالت لپاره ځنګه والی لیکلی، باور وکړۍ، چې دا حالت هم راته پېچلی برېښي، چې له عربي به سم وي او که نه؟

پرته له دې په دې پېر هم نه پوهېږم، چې دا به حالت ته وایي او که ځنګه؟

که دې کې هم هر ځنګه پرېکړه وي یا وه، نو یو کار به مو سرته رسولی وي. هیله ده چې اندونه سره ګډ کړو.

د ما برېښنا پته: smakhan1946@gmail.com

سنترپوزېشن؟؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما په خپلو ليکنو کې په ځانګړي توګه د حالتون او اړيکويونو له امله، چې په هکله مې يې څوليکنې کړي، پوره ناسمونونه هم کړي، خو دا هغه ناسمونونه دي او ګومان مې دئ دا اوس به مې لږ. د واک لاندې راوستي وي او سم به وي او دا لا تراوسه پورې د موږ ژبپوهانو همهغسې ليکې، سره همغږي شوي نه يو، خو بيا هم د ژبپوهانو مرستې ته اړتيا شته.

زه تر اوسه پورې په دې اند وم، چې ګوندې دا لاندې چې څه ليکم، سرکوم پوزېشنونه يا اړيکويونه به وي، خو راته چوته شوه چې داسې نه ده. وهر يوه ته به پام وکړو، خو دا ولې؟

زه چې څه د پښتو ګرامر په هکله ليکم، هغه د الماني په مرسته دي او نه پوهېږم، چې په پښتو کې به دا هم په دې غزونه ليکلي او څېړل شوي وي، که نه؟

ما په خپلو پخوانيو ليکنو کې هم دا هر څه د وړانديز په توګه ليکلي دي، خو دا چې په پښتو کې يې په هکله ماته څه نه دي څرګند او يا نه شته، نو تېروتنې به په کې وي او دانو يواځې يو کس شايد ونه شي کړی، مرستې ته اړتياشته.

که تاسو د څنګه والي يا حالتون او همداسې د پرې – پوست – سرکومپوزېشن په هکله پوره څه لرئ، نو هيله ده، چې دابه راته زما په برېښنا پته راولېږئ، چې زه به مو د مننې پوره وړئ وم.

داکتر ماخان مېرى شينوارى

کابل ته که و کابل ته

پوښتنه وه: ،،کابل ته ورسېدم،، او که ،،وکابل ته ورېسېدم،، کې

کوم سم دئ؟

ډېرو ګرانو! باور وکړئ، چې ستاسو وخت لکه څنګه چې دما وخت ډېر ارزښت راته لري او هېڅ وخت به ستاسو وخت له بېځايه پوښتنو سره تېر نه کړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملګرو پوهېږم، چې دا پوښتنه به زياتو او په ځانګړي توګه پرته له کندهار څخه د نورو ځايونو اوسېدنکو ته آن چې لږ ناروا وبرېښي. موږ ورسره سوچ، بوچ نابلد يو. دا هم - لاتراوسه په دې اند يم- چې د لومړي ځل لپاره د ما ژبلاريزه ميندنه ده، نو له دې امله يې بيا بيا د ما دا ډول ليکنې د ګرانو لوستونکو سره ګډوم.

کوم سم دى؟

،، وکندهار ته ورسېدم،، سم دى.

ولې؟

موږ په پښتو کې دوه ډوله حالتونه لرو.

لومړى-- رېکتوس يا ولاړ حالت او يا کړونى حالت دى، پوښتنې يې:څوک لو کوي او چالو وکړ.

دويم-- اوبليکوس، چې ما پروت حالت بللى، چې کړى شو زوړند يا مائل- يا نه کړنى حالت يې هم وبولو. هغه ټول نور حالتونه خوندي لري، چې پښتو کې يې لرو او په خواشينى بايد ووايم، چې نومونه يې نه شم ايښولى او غواړم هم نه، خو داذا لاندې يې د الماني داتيو حالت ته ورته دي، خو هرو مرو د پښتو او په ډېرو لارو، چې غوره يې دا لاندې دي:

يواځې بېلګې يې راوړم: له کابل څخه(سره، کره)، پرکابل باندې، په کابل کې، تر کابل پورې، وکابل ته او نور.

په پورته کې ،، له، پر، په، تر ،و ، او نور مورفېمونه دي، چې خپلواک څه نه وايي يا څه ترې نه پوهېدل کيږي، خو د نومونو او نومځاينيوو سره يوځاى حالتونه جوړوي او

،، څخه ، سره، کره ، کې، باندې، پورې، ته او نور،، پسې ځاى نيوي دي، نو په پورته کې ،، کابل ته،، به د دې ژبلاريزه ښووني په بنسټ رېکتوس يا ولاړ حالت وي، له دې څخه دا پوهېږو چې څه به کوي، خو څه نه کوي، نو له دې امله ،، و ،، بايد ورسره وي، چې ،، وما،، يا ،، وکابل،، اوبليکوس يا پروت حالت دى، چې له دې امله ژبلاريز سم دى. په هکله يې د ما ،، د پښتو ژبلار(د ښوونځي لپاره ،، کتاب کې هم شته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا چې څوک یو څه ځنګه بولي یا وايي، نو غوره نه ده. دا چې یو څه پوهنیز ځنګه دی داغوره.

د پوهنی بنستیزه وینا: یو څه تر هغې پورې سم دي، تر څو یې چې چا مخامخوالی نه وي ښوولی. نو دا هم تر هغې پورې سم دی، تر څو پورې یې چې چا مخامخوالی پوهنیز نه وي ښوولی.

ډېره بخښنه به راته کوي، چې په دې روژه کې مو سترې کوم. لوي څښنم راتهروغ لره او راڅخهزړهبدپ نه شی. د کمنتونو مو ډېره مننه

لنډ: د روانونو لپاره څه غونډالي:

۱ - هغه زه ووهلم.

۲ – د هغه کور

۳ – ما وهغه ته کتاب ورکړ.

۴ – ما هغه ته کتاب ورکړ.

موږ دوه ګرامري حالتونه لرو:

یو: رېکتوس یا ولاړ حالت. دا کړونی حالت دی.

دویم: اوبلیکوس، چې ما پروت حالت بللی، خو کېدی شي زوړند حالت یا نور هم بنه، نه کړونی حالت هم وبلل شي.

روښانونه:

په ۱ – کې: هغه کړونی یا رېکتوس حالت دی او زه پرېکړونی یا اوبلیکوس حالت دی، چې په الماني کې دې ته اکوزاتیو حالت وايي.

په ۲ – کې: د هغه کور ،، د ،، د خاوندوالي مورفېم دی او ،، د هغه،، د خاوندوالي حالت اړونده نومځاینیوی ورسرهیې اړونده ،، ډډ ، دی. دا پروت – یا نه کړونی حالت دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ۳ – کې: ،، ما ،، ولاړ یا کړونی حالت او ،، و ،، د اړونده حالت مورفیم او ،، وهغه،، اړونده حالت ته د نومځاینیوي په ځای دی.

دا پروت حالت دی.

په ۴ – کې: ،،هغه،، یواځې د کړوني او یا پربکړوني لپاره په اړونده غونډاله کې راځي، چې له دې امله کلیوالي ویېنه او معیاري یې د ،، وهغه ،، سره ده.

پوهنیزه وینا: یو څه تر هغې پورې سم دي تر څو یې چې مخامخ شننیز نه وي بشودل شوي

کازوس رېکتوس او کازوس اوبلیکوس

پیل یادونه: ما په دېرواره حالتونه لیکلي، هغه هم په دې د پښتو حالتونو کې خوندي دي او د پښتو حالتونه له الماني څخه توپیر لري. ما پخپله دېرې لیکنې په څلورو حالتونو کړې او اوس به دا په پښتو کې حالتونه وڅېړو:

په پښتو کې دوه حالتونه شتون لري. رکتوس او اوبلیکوس

Ca|sus rec|tus,د رکتوس – یا ولاړ حالات

ویې پېژند: ژبنیز نومیز Nominativ ولاړ حالت کلیمي سرچینه: لاتین "casus rectus" ،،نبغ، ولاړ حالت یا څنګه والی،، ، همغه پرېپوهنیز یوناني "ptōsis orthē" مخ ته لرو.:

مخامخ ویې یې Casus obliquus اوبلیکوس حالت دی.

نومیز حالت رېکتوس حالت دی: دا کړونی حالت دی، چې له دې امله ولاړ حالت هم ورته ویل کیږي.

— په بنستیزه توګه دې ته مخامخ یا برعکس او دې نورو حالتونو ته کاسوس اوبلیکوس دی، چې څنګیز، ننوتي، پروت، ... حالت دي.

(Casus obliquus (Deutsch

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوبلیک څنګه والی:

ویی ترېپوهېدنه/ پېژند:

۱ – ژبنیز: نه ولاړ -، پروت –، ننوتی – ، وتلی او یا کوږ څنګه والی (حالت). له دې امله به بسیا وکړي، که پروت حالت یې وبولو.

اوبلیکوس یا پروت څنګه والي دا لاندې څنګه والي خوندي لري:

بلواک څنګه والی: جینیتیو، داتیو، اکوزاتیو، ابلاتیو او دا اوس هم غږیز

د کلیمې بنسټ: له لاتینبلواک حالت یا – څنګه والی، چې یوناني پوهېدنه یې هم همدا ده

بلواک کازوس، اوبلیک کازوس، ناولاړ، زوړند یه پروت څنګه والی.

۱ – کازوس اوبلیک جینیتیو، داتیو او اکوزاتیو دي. دا مې په بل ځای کې څېړلي، چې په پښتو کې نور څنګه والي هم شته، لوریز، چې وروسته پوره څېړل شوي دي، **د پوره څرګندونې لپاره دې هلته وکتل شي.**

د نورو حالتونو لپاره مخ ته ځو:

یادونه: که دا لاندې بیا هم راغلي وي، لوستل یې بد نه دي.

Enklitische Pronominaاینکلیتیکي نومځاینیوي.

اینکلیتیکي نومځاینیوي یوه کیدنده لري، چې له یوه کړنوي سره ورزیات یا ورسره ونښلي یا ورسره ویلې شي. کړنوی + ځانیز پسې تړی. ډېر زیات د خبرو ژبه همداسې په شاعرۍ کې منځ ته راځي. په ډېرو لیکنیزه ژبه کې ترې ډډه کیږي یا دا د کړنوي سره یوځای په یو بل کې سره وېلې یا ولې شوي، چې یو نوی ویې منځ ته راوړي چې د دې تړنې سره پرېپوهېدنه هم پوره کوي.

د بېلګې په توګه: اینکلیتیکي نومځاینیوي د یوه شي دنده لري، که دا یوه کړنوي سر ورزیات شي.

ګډوله کونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

– کړنويي + ځانيز پسبتړی پە ويينژبە او ليکنژبە کې مخ تە راځي او همداسې بلە برخە يې

– ځانيزمختړي نومځاينيوي يا اينکليتيکي نومځاينيوی + کړنوی، چې دا دواړە بە لړ. د څېړنې لاندې ونيسو.

دا نومځاينيوي، نو څنگە روښانە کړو، چې کوم دي؟

کە غواړې عکسونە درتە ښايم. کە غواړې وتا تە عکسونە ښايم.

دا نسبتي وی و پسې ځاينيوی ياپوستپوزيشن ،، تە،، تە يو اوبليک دی. او د الماني داتيو څنگە والي تە انډول دی او لە دې سرە د پوست پوزيشن پە څېر د موخە لور (چېرتە) دندە لري. بيلگە: و کور تە ځم.

پرمېز(حالت) باندې (اړيکوی) د انگورو (خاوندوالی حالت) لە جنډې (حالت) څخە (اړيکوی) انگورو (نوم) لە ځان(حالت) سرە (اړيکوی) وتا(حالت) تە (آړيکوی) دروړە.

گورو، چې ټول اړيکويونە پسځاينيوي يا پوستپوزيشنونە دي.

دا مې تر اوسە پورې سنترپوزيشنونە بلل، چې ناسم دي او دا پر، پە او نور چې راځي، دا د حالتونو مورفېمونە دي، لکە ،،د،، د خاوندوالي مورفېم.

د اينکليتيکي نومځاينيوي څلور دندې: دې، مې، مو، يې....

دا څلورواړە پە يوە گډولە يا لړی څنگيزە غونډالە کې

زە دې دلتە راوغوښتم، چې تە مې وليدې او هغە مو، چې وليدە دايې وويل:

لوريز نومځاينيوي

لوريز نومځاينيوي: نومځاينيوي را، در، ور يوە لور غورە کوي، نو لە دې املە لوريز نومځاينيوي.

لرو: ـ (را، در، ور) (سرە،څخە،کرە، تە، پورې، کې، باندې،...)

پە پورتە کې پە لومړي نوکانو کې نومځاينيوي دي او پە دويم کې اړيکويونە يا پسځاينيوي دي، چې پە نومځاينيو پسې تړلي راځي. دا بيا داسې همم ليکلی شو:

(c) ketabton.com: The Digital Library

له ما، له تا، له موږ،له هغه......سره(ځخه، کره) ، وما ته، وتا ته، وهغه ته، پر میز باندې یاپر هغه باندې...په کور کې

—— داسې له یوه تورې جوړ نومځاینیوي شته، موږ چې یو څه کوو، په پای کې د هغه کړونې پسې نومځاینیوی(انکلېتیکي نومځاینیوي بلل کیږي(په لیکنه کې یې پېژند شته)) ورزیاتوو یاورسره نښلوو

بېلګې یې: ځم، ځو،ځې ، ځئ، ځي(د دریم کس ن، ښ یو او ډېرو لپاره).

دا یو وییېزې یا له یوه ویي جوړې پوره غونډالې دې.

— له بلې لور له داسې کړونو سره دا را، در، ور نومځاینیوي مخ ته تړل کېږي او کړنویي پسې هممهال دا د —م، -ې، -ئ او نور هم تړل کیږي او داسې یوووییزې پوره غونډالي جوړوي: درځم، راځې، ورځم او نور. دا به د روستاړو او مختاړ او – مشوره. ځنګه ونوموو. دا لوریز نومځاینیوي، کړنویي سره د مخه تړلي او پسې تړلي یې دا اېنکلییکتیکي نومځای نیوي دا یوه کړنوویي او دوه وو نومځاینیوو سره په ګډه یوه یوویېزهغونډاله جوړوي.

دې برخه کې هم نېمګرتیاوې شته، چې

یادونه: په دې هکله مې – د ما نوې میندنې کې- هم پوره لیکنه شته

ابلاتیو (Ablativ (Deutsch

ویي پېژند: لاتین ژبلار: ابلاتیو د پربېدیکات نږدې پېژندنې ټاکلو په چوپړ کې دي. دا حالتونه ورکوي، چې د هغو لاندې کړنه کیږي. دا داسې کارول کیږي
Ablativus instrumentalis اله ییز ابلاتیو: د پوښتنې په ځواب کې:،، له څه یاڅه شي سره،،؟ ، ،، د څه له لارې ځخه،، ؟، ،، له چا سره یوځای،،؟

– Ablativus separativus د بېلېدنې ابلاتیو: د بېلېدنې ابلاتیو پوښتنې ته دئ، چې : له کومه ځخه،،؟ ، ،، له څه ځخه،،؟

Ablativus comparationis

د پرتله کونې ابلاتیو له و چا ته یا نسبت و چا ته سره

Ablativus limitationis

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کليمې د رابندونې ابلاتيو په پوښتنه،،په کومه اړيکه کې،،؟

Ablativus locativus

ځايټاکنيز ابلاتيو و پوښتنې ته ،، چېرته،،؟

Ablativus temporalis #

د مهالټاکنې ابلاتيو و پوښتنې ته ،، کله،،؟ ، د،، د کوم وخت په دننه کې،،؟

Ablativus mensurae

ست- يا ډېرۍ – يا څومره والي ورکړه، و پوښتنې ته ،، په څو،،؟

Ablativus qualitatis

د څنګه والي يا خوي ابلاتيو.

له ،، د ،، سره خاوندوالي جوړونه: دا ،، د ،، په ځنو ادبياتو کې د خاوندوالي مورفيم بلل کيږي او ځنې يې بيا په بلابېلو لاملونو د مخځاينيوی(پرېپوزېشن) بولي، خو دا چې دا يو مورفيم دی او خپلواکه پرېپوهېدنه نه لري، نو دا د خاوندوالي مورفيم يې سم دی. بېلګه : د کور ښکلی باغ.

د غږ کولو حالت Vokativ

په پښتو کې د غږکولو په حالت کې د ناغږيزو تورو پسې يوه ،، ه ،، تړلکيږي(دا خو ځانله د دې سره نه دی، د نور لکه ی سره هم راځي) او نورو ته دې يې په ګډه فکر وشي.

بېلګې: ورور، وروره،

سړی، سړيه

ملګری، (اې) ملګريه.

د ښځينه وو لپاره :

بېلګې: مور، مورې،

خور، خورې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ډېر لباره په ټولیز هتوګه باور لري، چې غږیز/ ډېر = اوبلیک/ډېر

بېلګې: ګران ملګري، ګرانو ملګرو!
ښځې/ (اې) ښځو!

پسې نومځینیوي د خبرو دې، خو ما په دې هکله پوره لیکنې کړي، نورې نه پرېکوم، خو ستاسو پام یواځې د ې ځنې ځانیزو نومځاینیوو ته رااړوم.

زه، ته، هغه، ما، تا، هغه، او نور

په دې ټولو حالتونو پوره خبرې شوي.

Demonstrativpronomina (اشاري نومځاینیوي)

اشاري نومځاینیوي (رکتوس)

دا، دغه،

نور اشاري نومځاینیوي: هغومره، دغسی، داسی، داسی، همدا، همداسې، همدغسې ...
دومره ، هومره، دومره...څومره داسی، داسی، همدا، همداسې، همدغسې دا،
دغه،دغې،هغه،هغې

لوریز نومځاینیوي: د اړیکویونې سره دا لوریزې ټوټې د پوستپوزېښن د لوریزنومځانیوو کیږي. سره تړاو یا تړنه.

دا لوریزې ټوټې : را، در، ور دي، چې د پرېپوزېشن په څېر د اړیکویونو په څېر د کړنوییو سره نښلي یا ویلې کیږي. یو څو بېلګې...

پوښتننومځاینیوي:

څوک، چا، څه، څو، څومره، کوم...څومه، څنګه، څرنګه

Indefinitpronomina ((ناټرلی نومځاینیوي

څوک،څه، څو، کوم، یو شی، یو څوک، یو چاته، د یوهچا، څومره، ځنې، هر، ټول، نور، هېڅ

په ژبلار یا ګرامر کې ناټرلي یاخپلواک نومځاینیوي د نومځاینیو لاندېډله جوړوي(برخډله مې لیکله وه، خو د لاندېډلې او برخډلې په منځ کې مې توپیر ته پام نه وو). د و ي دوي مو

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوګونو یا افرادو ته پام اړوي، چې د هغوي ایدنتیتي له نږدې نه ده ټاکل شوې یا د ناټاکلې ګڼون (تعداد) افرادو همداسې په افرادو (یوګونو کسانو) باندې شتونوینا کوي.

Indefinitpronomen mit vorangestellten Wörtern

ناټړلي نومځاینیوي د مخ ته تړلو وییونو سره:

هېڅ څوک، هرڅوک، لږڅه، یو څه ، یوڅوک

Unbestimmter Artikelناټاکلي پېژند نخښې (ن،ښ)

یادونه: دا د الماني ژبې یو ځانګړنه ده، په دا ناټاکلی ارتیکل نه شته.

۱ – رکتوس: (ن،ښ)یو، یوه

۲ – اوبلیکوس: (ن،ښ) یوه، یوې

یادونه: ۱ – داپورته داسې برېښي، چې ګوندې د بېلګې په توګه یوسړی راغئ. یوه ښځه راغله او

۲ – یوه سړي وویل. یوې ښځې وویل.

دا دواړه حالتونه کړوني دي او د پښتو ژبلارې له مخې او د رکتوس او اوبلیکوس د پېژند له مخې باید رکتوس وي، نو اوبلیکوس به یې څه وي؟

اوبلیکوس: له یوه سړي. له یوې ښځې. دلته له د یوه مورفېم په څېر راغلی، یو پروت حالت دئ.

دا موضوع هم دما نوې مخامخونه ده. له دې د مخه ورسره نه وم مخامخ شوی، نو د څېړنې او د خبرو به پوره څه په کې وي.

موږ د نورو ژبو څخه ګټه اخلو، په زیاتو ځایونو کې د نورو ژبو څخه ګټه اخستل کېدی شي، خو سره ورته ژبنیزې لارې سره نه لري.

په فارسي کې: مېرم.. او نور، مادرم، ...، او نور

په فارسي کې بیا خاوندوالي هغه نومونو لپاره، چې پای یې بېغږه توري وی، -م،-ت،-ش پسې تړلي او که پای یې غږلرونکي توري وي، نو بیا پسې -یم، -یت او –یش پسئ تړلي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په پښتو کې: ځم، ځو، ځي، ځئ ... او ور خو موږ مې (دې، يې) په پښتو د کړنوي پسې، م،ې، ي تړلي او د خاوندوالي نومځاينيوو پسې بيا مې، دې، يې مو د مخه وڅېړل.

د دې يو لامل دا کېدی شي، چې په پښتو کې د کړنوي اخر کې دا ورسره زياتېدنه دکړنوي پسې تړلی يا سره ويلې شوې شته، خو د خاوندوالي نومځای نيوي خپلواک شته دئ او په درې کې دا نه شته يا داسې نه دي.

دا نور نومځاينيوي به د څنګه والي يا حالت نومځاينيوي وبولو او ګورو، چې د اينکليتيکي نومځاينيوو سره توپير لری.

زما (د ما، يما) پوښتنه

دا پوښتنه مې د ملګرو څخه کړې وه.

لرو: يما، يموږ، يتا، يتاسو، زما، زموږ، ستا، ستاسو، دما، دموږ، د تا، دتاسو.

د ژبلار له لارې کوم سم دي او ولې؟

په هکله يا ځواب کې د ګرانو م ک ملګرو اندونو داسې لنډيز:

يو ا: ځنې په دې اند دي، چې ګوندې ليکنې ستونځمنوم او داسې دي د .... دي

يو: ځنو ته د داسې پوښتنو او ليکنو منځ ته رااچول نا اړين او ناسم برېښېده، ځکه چې دا لهجې يا ځای اړونده وېپنډولونه دي او درېواړه سم دي.

دوه: نورو هم دا ويل، چې دا لهجې دي او په ټولو ژبو کې شته.

درې: داسې اند هم شته وو، چې په دې پرېکړه شوې، چې زما، ستا، زموږ، ستاسو غوره شوي او بس.

يوه يادونه: زه له خپله ځان څخه څه نه جوړوم او نه ليکم، چې نورو ژبو يا لړترلړه الماني کې يې انډول نه وي. پيداپښتي ژبې پوره دي او په ژبلار سنبال. پيداپښتي ځانګړنې يې هم ځانګړې لارې لري.

دما د م ک ملګرو! دما هغې پوښتنې ته او د تاسو اندونو ته په درناوي داسې ليکم:

په ډېره خواشينئ بايد دا هم ووايم، چې زه يو لور او تاسو ټول بل لور ياستئ او دا هم د ما د ملامتئ لامل بايد وي، خو زه چې هر څه راوړم، پوهنيز لامل به ورسره وي، دا

(c) ketabton.com: The Digital Library

سرسختي نه ده او که وي وبه ګورو، چې زما ليکنه بيا څنګه ناسمه په پوهنيزو ويناو يا ليکنو اباده ښولکيږي.

يادونه: زه پوهېږم، چې کوم منل شوی دی، خو په هغه پوهنيز او منلو لامل يې نه پوهېږم، چې کوم دی او ولې؟

ايا په دې ګوته پورته کيږي او که پوهنيز دلايل راوړل کيږي؟

که چا داراته وليکل چې زما اند ناسم دی او که نه نو څنګه؟

د پوهنې وزارت نصاب غونډه کې بله د منلشوي وي ببلګه، چې د عربي مايع لپاره يې انډول پيدا کاوه: زه په دې غونډه کې پخپله ناست وم او په دې پرېکړه کيده، چې د عربي مايع انډول پښتو بايد ،،اوبلن،، وليکو، چې دا ډېر ناسم دی او دا يواځې او يواځې د واورو – چې اوبه شوې نه وي- خوي دی او نه د نورو مايعاتو. که ما هرڅومره هڅې وکړې او دلايل مې راوړه، نه منل کېده، چې ګوندې زما يې له ژبې سره څه.

له دې داسي برېښي، چې ګوندې ژبه دمصلحت خبره ده او دا سمه خبره نه ده. ژبه له پيداښته شته او پيداښت مصلحت نه مني. په دې هکله مې ليکنه شته.

د موږ ژبې ته ډېر څه ناسم راننوتلي، چې يواځې دما ورته فکر شوی او په هکله مې يو کتاب ليکلی، چې د کتابتون.کوم درنې خپرونې کې خور دی.

دژبې په هکله هلته زما د پښتو په هکله دا لاندې دوه کتابونه دکتلو دي او که څه په دلايلو ناسم وو، نو ماته چې هره جريمه ټاکی منم يې، چې وړانديز مې دی د ناسمون په حالت کې ډاکتري راڅخه واخلی، د ناسمو کړنو له امله او که نه، نو بيايې راسره ومنی او د ستونځو ګاللو لپاره راته د پښتو ډاکتري راکړی. د ما دا ټول کار لږ ترلږه د پنځلسو کالو کار دی.

په هکله يې کتابونه:

لومړی: د پښتو ژبلار (ګرامر(

دويم: په پښتو کې ناسم ورځني شوي ويونه.

تاسوچې همدا شمېروني ته ورکړی، داکتابونه درته درکوي او يايې کتابتون.کوم کې کتلی شی.

اوس دا لاندې:

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱ ـــ زه به هیڅکله هم داسې څه ونه لیکم، چې یوه پوهنیزه موخه مې په کې نه وي او زما په اند یو سم ځواب ورته ونه لرو، ستاسو وخت بېځایه نه نیسم.

داسې نه وایم، چې ۹۵٪ کې، ځکه چې پوهنیزو خبرو کې یواځې سم او ناسم شته.

هغه بله غوره خبره چې په یاد یې راړم داده، چې ماهیڅکله داسې وی نه دی کارولی، چې ما جوړ کړی وي او موږ ورسره بلد نه یو، خو زما د لیکنو سره دا نابلدتیا شته، چې دباندني ویونه په کې یانه شته او یا ډېر کم دي، خو ناپوهوړ څه مې نه دي لیکلي.

۲ ـــ ایا دا لهجه یا بلډول ویېنه ده؟

نه! دا لهجه نه ده، چې په ۳ ــم کې ګوته ورته نیولشوې.

لهجه یا بلډول ویل نو څنګه وي؟

لهجه د یوه وي ځای اړوند بېلابېلو ویلو ته وایي، لکه: یما، یمو، یتا، یتو، یموړ، یمیړ. دلته دا ،، ړ ،، هم په درې ډوله ویل کیږي، چې دا هم بیا درې لهجې یا بېلابېلې ویېنې دي او یا دا: موړ کور ته ځو. یو ډول ویېنه او بله ډول ویېنه یا لهجه ېې: میړ کېړ ته ځي (که دا مې سمه نه وي لیکلي، راته سمه یې کړئ او ماته به بخښنه کوئ.(

۳ ـــ دا ما چې یې په هکله پوښتلي، دا د یوه څه لپاره درې بېلابېل ژبتوکي دي او دا د ملکیت یا خاوندوالي لپاره نومځاینیوي دي.

د خاوندوالي لپاره په الماني کې د لومړي کس لپاره mein د خاوندوالي پرونوم یانومځاینیوی دئ او انګرېزي کې یې my دئ.

د دې لپاره موږ په پښتو کې درې بېلابېل انډول کاروو، چې زما له انده یو یې باید سم وي، که څه هم پیدابښت ناسم څه موږ ته نه راکوي، خو دا د وخت په تېرېدو سره بدلېدلی شي یا بدلیږي.

موږ وایو: لومړی کس: یما،زما،دما،

دویم کس: یتا، ستا، دتا

دریم کس:د هغه (دهغې(

دا درې ډوله نومځای نیوي دلومړي او دویم کس لپاره دي او د دریم کس لپاره ځانله ،، د هغه(دهغې)،، دئ. زموږ د پښتو د پوهنتون استادانو هم په دې هکله لیکنې کړي، چې ما یې لیکنو ته په خپل ګرامر او بل کتاب کې د سمون په هکله لیکنې خورې کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په پورته کې د دریم کس لپاره ،، د هغه (د هغي)،، کې ،، د،، د ،، هغه(هغې)،، سره د یوه وی په خبر نه او بېل لیکلکېدی شي یا کیږي، نو دلته به وو ایو، چې دا ،، د ،، د خاوندوالي مورفیم دی او هغه پرونوم سره مل راځي.

د ،، د ،، تولیز کېدنه: که داسي ترې یوه شو، خو په دې لومړي او دویم کې به هم دا ،، د ،، د خاوندوالي مورفېم وي او له دې امله به دا ،، د ،، له ،، ما او تا،، سره دما، دتا د ژبلار له لارې سم وي.

نو: له دې دریو څخه د ژبلار له لارې دما، دموږ، دتا د تاسو، د هغه(هغې)، هغوي سم دي او بس.

یادونه یا زماتینګار: تر هغې، چې تاسو ګرانو لوستونکو دانه وي رد کړی یا د دې بل سموالی راته په دلایلو نه وي راښولی، نو دا به سم وي.

و ما ته به بخښنه کوی، که ستړي کوم مو.

په څنګیزه یادونه:

تراوسه پورې مې د خاوندوالي حالت کې یو پوستپوزېشن یا پسېځاینیوی ومیند او هغه ،، لپاره،، دی.

الماني او انګرېزي یې: für and for

پام: دا د ،، پار ،، لپاره یا په ځای نه دی، نو سره ګډ لیکل کیږي، ځکه یو وی دی او نه ګډوله.

د ،، پار ،، لپاره الماني او انګرېزي هغه غوره یې: because of and wegen

په ژبلار کې نوي میندني

ډاکتر ماخان میرړی شینواری

پیل یادونه: ژبه پیداښت دی او څوک په پیداښت کې ګوتې نه شي وهلی او که دا کار وشي، نو هرومرو به ناسم وي. دا په دې تربیو هېدنه، چې ما هم دلته له ځان څخه ځه نه دي پیدا کړي یا جوړ کړي، هغه د پیداښت څخه راپیدا څه مې سره شنلي یا روښانه کړي، هیله ده چې سم به مې میندلي وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هیله ده، چې ویې لولی، مرسته وکړی، د پښتو ژبلارې د ودې لپاره.

په پوهنیزه څېړنه کې باید مخامخوالی نه وي، دا په دې پرېپوهېدنه چې باید رد نه شي.

نن د ۲۰۲۱ ز کال د مارچ ۳۱ ـم په درې بجو مې خوب کډه وکړه، د همغه خپل چرت له امله، خو دژبې په هکله مې میندنې وکړې، چې له دې امله ورته خوښ یم.

دا لیکنه په څو برخو وېشم او په لاندې توګه یې له تاسو سره ګډوم:

لومړی: د ماپخوانی اند د ځنو اړیکووینو یا که غواړی، د ادپوزېشنونو په هکله

دویم: څنګه والي یا حالتونه

دریم: دا اوس مې ورته د دې لیکنې په هکله پام شوي نومځاینیوي، یا مرستندوي نومځاینیوي او یایې که هرڅه د بللو وړاندیز کوي. دا دوه برخې لري.

څلورم: پښتو- لږ تر لږه په داتیو حالت کې – یواځې پوستپوزېشنونه (پسې ځاینیوي) لري.

پنځم: له الماني، انګرېزي څخه مو د ادپوزېشنونو په پخوانی بڼه ناسم پښتو ژباړلي دي

و لومړی ته: د ما پخوانی اند، چې دا ځنې ګډوله اړیکویونه به ګوندې سنترپوزېشنونه وي:

له....څخه (سره، کره)، په .... کې، پر...باندې، تر.... پورې، و ... ته او نور. ګومان مې دا هم وو، چې ګوندې پښتو به مخ ـ پسې – سنتر ځای نیوي ولري. په دې هکله مې لیکنې شته.

دابه په لیکنه کې روښانه شي.

دویم: څنګه والي یا حالتونه، چې لنډ یې بیا له تاسو سره ګډوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پښتو ځنګه والي، پېر یا حالت ته د مشورې لپاره.

د الماني ژبلار په متېه یا مرسته دا ځنګه والي (پېرونه،حالتونه) د پوښتنو په مرسته په لاندې توګه روښانوو: دلته یواځې د پوښتنو له لارې.

۱ – نومیز ځنګه والی:(څوک؟، چا؟)، (څه؟)

۲ – د خاوندوالي ځنګه والی: (د چا؟، د څه؟)

۳ – داتیو ځنګه والی: ا – (له چا؟) ، (له څه؟)،ب – (وچا؟)،(وڅه؟) پ – (په چا؟)، (په څه؟)، ت - (پرچا؟)،(پرڅه؟)، ټ – (ترچا؟)، ترڅه؟)،

دلته دې پام او خبرې پرې وشي، چې دا ځنګه ونوموو، یا نومول شوي (که وي). دې نور کې- ګومان مې دی- ستونځې نه شته.

۴ – اکوزاتیو ځنګه والی: (چا، څوک، څه)

ګورو، چې ۱ – او ۴ – یو ډول دي، خو ۱ – د کړوني په ځنګه والي او ۴ – د پرېکړوني یا نه کړوني په ځنګه والي کې دی.

پوښتنغونډاله جوړوو:

څوک له چا سره د چا له کور څخه د چا وکور ته لاړ او په څه کې پر څه باندې څه یې د څه پرسر کېښود؟

داسې یې ځوابوو یا روښانه کوو:

(سپین) «۱» (له تور)«۲» سره (د تور) «۳» (له کور)«۴» څخه (د ځلمې)«۵» (وکور) «۶»ته لاړ او (په کوټه)«۷» کې (پرمېز) «۸» باندې (کتاب)«۹» یې د چوکۍ (پرسر)«۱۰» باندې کېښود.

د الماني ژبلار له مخې به «۱» نومیز، «۲»، «۳»،«۴»،«۵»، «۷»،«۶»،«۸»او«۱۰» داتیو، «۳»،«۵» واکوالي او «۹» اکوزاتیو حالتویونه یا پېرونه او که غواړې ځنګه والي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که تول سره مرسته وکړو او دا پورته سره همغږیز کړو، نو زما په اند به مو د پښتو ژبې یو څه ستونځې اوبی کړې وي.

یادونه: ما چې دا پورته د حالت لپاره ځنګه والی لیکلی، باور وکړی، چې دا حالت هم راته پېچلی برېښي، چې له عربي به سم وي او که نه؟

پرته له دې په دې پېر هم نه پوهېږم، چې دا به حالت ته وایې او که ځنګه؟ که دې کې هم هر ځنګه پرېکړه وي یا وه، نو یو کار به مو سرته رسولی وي.
هیله ده چې اندونه سره ګډ کړو.

اوس راځو:

و دریم ته: دا اوس مې ورته پام راګرځېدلی نومځاینیوي.

دا کوم دي؟ دا را، در، ور دي او مې، دې، یې، چې د کارونو یې بېلابېل ځایونه شته.

دا په دوه برخو وېشو

الف: الف ۱ – موږ په پښتو ژبه کې د خاوندوالي لپاره مرستندوي یا پوره او که هرځنګه یې بولې نومځای نیوي لرو:

مې، دې، یې. د دې ،،یې،، نارینه، ښځینه او ډېر هم همداسې دي او د ،،مې، دې ،، لپاره وایو چې ،، مو،، . پوښتنه دا ده چې به د دواړو لپاره وي او که د یوه لپاره.

دا هم په دوه ډوله کارول کیږي

الف ۱ ۱ – که ووایو: کور مې(دې، یې) سپین دی، نو پوهیږو، چې دا د خاوندوالي نومځای نیوي دي او که ووایو:

الف ۱ ۲ – که ووایو: کتاب مې (دې، یې) واخست، نو دلته دا بیا نومیز حالت دی. دلته بیا د کړوني په څېر رامنځ ته کیږي. هیله ده، چې په دې هکله به هم کران مینه وال مرسته وکړي.

الف ۲ – همداسې د داتیو لپاره هم دا لاندې نومځاینیوي لرو:

(c) ketabton.com: The Digital Library

را، در، ور، چې زيات يې هم همداسې دي.

د دې لپاره به يې الماني او انګريزي انډول راوړ او وبه ګورو، چې دا هم همهغسې موخوردي
ب – څنګه والي يا حالتونه.

ب ۱ – د خاوندوالي څنګه والی يا حالت

انګرېزي نومځاينيوي د خاوندوالي لباره

His yuors my

الماني.............................

Sein dein mein

انډول پښتو يې د ساده يا نيم – يا خاوندوالي نومځای نيوو سره.

مې دې يې

پښتو پوره يا ورسره بلد نومځای نيوي

دما دتا د هغه... او نور

يادونه ښځينه او ډېر يې په پام کې نه دي نيول شوي.

(My (mein) house (Haus

کور مې

دماکور

ب ۲ – د داتيو څنګه والی يا حالت

را – ، در- ، ور – (څخه، سره، کره، باندې، لاندې، کې، پورې، ته، ...)

که الماني ته مو پام راوګرځوو، نو دا پورته اړيکويونه ټول د داتيو په څنګه والي کې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له ما – ، له تا – له هغه (هغې) –(څخه، سره، کره) او

پر... باندې، پر (ما، تا، هغه...) باندې او پورې، په (ما، تا، هغه، ...) کې، تر ...پورې، و ... ته

(و....) په کندهارۍ ګړدود کې په روښانه توګه شته

کور مې، – دې، – يې،

انګرېزي نومځري د داتيو لپاره

him you me

الماي نومځري د لپاره

Ihm dir mir

پښتو نومځري د داتيو لپاره

را در ور

دا پورته، مرستندوی (؟) نومځاينيوي د يو او ډېرو لپاره هم دي او تيک همهغه د الماني او انګرېزي په څېر د داتيو حالت ښاييياو دا لاندې يې بل ډول دي.

له ما له تا له هغه او نور

د حالتونو څېړنې له مخې پای لاس ته راړنه او ګومان مې دی، چې داپرېکړه- که راسره ومنل شوه – نوې وي.

څلورم: پښتو ژبه يواځې او يا لږ تر لږه د داتيو حالت کې يواځې پوستپوزېشنونه لري.

څه پوهيږو، چې دا پوستپوزېشنونه دي؟

دا له... (څخه، سره ...) او همداسې دا په... کې او پر...باندې، تر... پورې او نور سنترپوزېشنونه نه دي؟

هغه اړيکويونه چې د را، در، ور سره راځي، برېښي چې بوستپوزېشنونه دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو دا له، په، تر او نور نو بیا کوم ژبني توکي یا ژبني څه دي او همداسې خپلواکه ترېپیو هېدنه هم نه لري. دابه روښانه کړو. دا یواځې د یوه نومځري سره پرېپوّبېدنهلري یا یې پهواک کې دي او بس.

که منلي مو وي، چې،، د ،، د خاوندوالي مورفېم دی او له مې، دې، یې څخه همداسې برېښي، نو دلته هم دا ،، له، په، پر، تر...، د داتیو حالت مورفېمونه دي او یا د ما، دتا، دهغه،... سره یوځای داتیو حالت ورکوي.

بل لامل یې دا دی، چې دا له، .... په را، در، ور کې دننه یا خوندي دي.

یو څو بېلګې:

له ما(-تا،-هغه....) څخه ولاړ. را (در، ور) څخه ولاړ.

تر تا پورې درورسېد. درپورې در ورسېد.

یادونه: که دا سم وي، نو ګورو، چې تر مور تل ناسم او زیات کاروو.

پنځم: له الماني، انګرېزي څخه مو د ادپوزېشنونو په پخوانی بڼه ناسم پښتو ژباړلي دي، داچې دا له، په، پر، و، تر نو په الماني او نګرېزي داسې نه دي؟

ما تراوسه پورې داسې انګېرل:

۱ – له... څخه، یا ځانله لهvor; from

۲ – تر یا تر ...(پورې) bis; until

۳ – په... کې im, in

۴ – پر.... باندې یا پر auf, of

۵ – و....ته zu, to

۶ – له .. سره mit, with

د Vor, bis, in, auf, zu لپاره د پښتو دي:

څخه، پورې، کې، باندې، ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوه بېلګه: سپین راڅخه در روان شو او په لنډ وخت کې درپورې در رسیږي.

شپین له ما څخه و تا ته در روان شو او په لنډوخت کې به تر تاپورې ذرورسیږي.

دلته دې اړوند دې ته هم پام راواړل، درواړول، ورواړول شي، چې دلته لکه راغی، درغی، ورغي هم شته.

دا د څېړلو خوندیونه راته پیچلې، خو له ردولو یا مخامخوالي راته ازاده یا خپلواکه بریښي.

بیا لنډ: له، تر، په، پر، خپلواکه پرېپوهېدنې نه لري او د اړیکویونو پهواک کې دي..

هیله ده، چې پر دې باندې به یو له بل سره ګرمې خبرې ولرو.

Klitikum = تکیه اړ نومځاینیوي:

پیل یادونه: تر هغې پورې، چې ما و ځان ته روښانه کړه، دا لیکنه یا همهغه د مادا ډول لیکنې په پښتو کې تراوسه پورې یواځنی دي، چې له دې امله به ستونځې ولري. دا لیکو او په خبرو کې کاروو، خو بېلاریزه لار سره یې بلد نه یو، نو د خبرو او د پام وړ راته بریښي.
کلیتیکې (له زړې یونانيἐγκλιτικόν رابېل شوي تکیه شوی ویي) هغه ویي، چې کلیتیکون یا تکیه اړ ویي، په دې پوهېدنه، چې په یوه بل ویي باید تکیه وي (دا خو هغه ټولیز یا د نورو ژبو څخه رانیولی پېژند دی، دا کېدی شي په پښتو کې بل ډول راشي، چې فکر باید ورته وشي او دا چې زه ګورم، د پښتو دا کلیتیکي نومځاینیوي، چې د ما لخوا انډول داسې راوړل او بلل شوي، بل ډول دي هم، خو دا اوږد او په ګډه فکر غواړي، چې دا نه شته).
هغه وییونه، چې تکیه پرې کوي بنسټ ویي بلل کیږي او پرته له دې څخه تکیه ویي یا مېلمه پال ویی دی. دا ټړن ویي له تکیه اړ ویي سره یو نږدې غږیز یاموزیکي یووالی جوړوي، ډېر وخت phonologisches فونولوژیکي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ويي دی. په دې موخه تکيه اړ وييونه خپلواک او ازاد وييونه نه دي او د خپلواک وييونو او افېکسونو (مختړو؟؟) په منځ کې ځانګړی ځای نيسي. يو لړ کريتيرين شته، چې افيکسونه له تکيه اړ وييونو څخه توپيروي، کېدی شي افيکسونه په بڼه جوړونه کې نامنظموالی راولي او په تکيه اړ وييونو کې په ټوليزه توګه بنسټيي کې بدلون نه راځي.

١ - (دا برخه په څېړلو کې داسې پېچلې بريښي، چې کېدی شي د پښتو او الماني څېړنې سره توپير ولري، خو زه به هغه زه ورڅخه پوه شوې ليکنه له تاسو سره شريکه کړم، چې پوره کونه يې بيا راتلوکي ژبپوهان په غاړه بايد واخستلی شي.)
٢ – په هره برخه کې بېلګې هم نه شته، ځکه چې برته له تکيه اړ وييونو څخه داسې روښانه دا افيکس آو .... ښه نه پېژنم، خو پېژند مې يې در سره سم ګډ کړی دی.

کليتيکي يا تکيه اړ نومځاينيوي لړو:

تکيه اړ نور هم د هغوي د بنسټونو د ډول له مخې څخه توپيرېږي. هغوي سينتاکتيکي (د غونډلو او غونډلو جوړونو اړوند، د غونډلپوهنې اړوند) ټاکلي يا په يوه مورفولوزيکي کاتېګوري کې رابند وي.

مورږ دوه ډوله تکيه اړ ويونه يا نومځاينيوي پېژنو:

١ – Proklitika هغه وييونه يا ښه يې نومځاينيوي دی، چې پسې راتلونکي ويي باندې تکيه کوي.

٢ – Enklitika هغه نومځاينيوي دي، چې ځانونه د مخه تلونکو وييونو پسې تکيه کوي د مخه تکيه اړنومځاينيوی(pro- klitisch): يو (د مخه تکيه وي) پسې تلونې ويی پورې داسې تکيه وي، چې يوځای يو ويي جوړ کړي.

دا نومځاينيوي ټول درې دي: را، در ، ور.
يادونه: زه چې دا ويونه په ن ج کې ګورم، نو د هغه څه سره چې زه يې له الماني لولم، پوره توپير لري، چې دا همداسې بايد وي هم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوه اړیینه یادونه: ما دلته د دې نومونو لاندې څېړلي، کېدی شي /به نورو ژبو کې، چې داسې خوی ولري، په هغو کې ښه روښانه شوی وي، خو زه نه پرېپوهېږم. هرڅنګه چې وي، دا څېړلي، چې د هر نامه لاندې وي، ژبنیزه ستونځه په کې نه شته. که دا نومیزه ستونځه بل ډول چا بللې وي یا بولي، له هغې څخه زه خبر نه یم او هیله ده، چې راسره ګډ به یې کړی.

همداسې: دا په پښتو کې لړ د پوښتنې دی، چې له بنسټ ویي سره یوځای یو ویي جوړوي او که څنګه؟

بېلګې یې: را څخه او که راڅخه، را پسې او که راپسې، را سره او که راسره.

د دې نومځاینیو کارونه هم ژبپوهنبز په دوه ډوله وییونو یا تکیهوییونو سره راځي، چې بېل او ګډ لیکلو کې دې هم پام ورته وشي.

۱۱ – د کړوني یا رېکتوس حالت کې

۱۲ – په نه کړوني یا اوبلیکوس حالت کې او هلته هم یواځې د پسېځاینیو د مخه تکیه اړ نومځاینیوي دي.

و ۱ ۱ – ته: موږ کړنوییونه لرو، چې په هغو کې پرېکړونی نه شته، لکه: تلل. داسې ویونه لوریز کړنوییونه هم بللکیږي او دارا، در، ور هم د همدې وییونو سره راځي. دا را،در، ور. له دې کړنوییونو سره ګډ یو ویي جوړوي. موږ وایو: تلل، راتلل،ورتلل. درتلل.

که د دې سره موږ یوه کړونې غونډله جوړوو، نو وایوو: زه درځم، ته راځې او هغه ورځي او همداسې زه ځم، ته ځې او نور.

دلته ګوره د ځانیز نومځاینیوي سره دا را،در، ور هم د هغه کړنویي ،، تلل سره راځي.

دا د هغه مې، دې، یې په څېر لکه هلته د هغو لپاره ما، تا، هغه ... او نور راځي، خو په دې کې داسې نه ده، نو څنګه فکر باید دلته وشي؟

که ولرو: راځي. پوښتنه: څوک راځي؟ ځوابه: زه، (هغه، ته...) راځم (راځي، راځي،...)

دلته ګورو، چې د پوښتنو په ځوابولو کې دا کړننومووپونه ورسره مل دي. داسې برېښي، چې د ځم او ... سره دا را، در، ور بیا نهبېلېدونکي تړلي، دا په دې پوهېدنه، چې د هغو برخه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

و ۱ ۲ – ته: دلته دا را، در، ور یواځې د پسېځاینیوو سره راځي. دا چې دا هم ګډ یا بېل لیکل کیږي، د پام وړ دي. موږ لرو: را(در، ور) سره (څخه، کره، پورې کې او نور)

دا بې له دې اینکلیتیکي نومځاینیوو داسې لیکو: له ما (له تا، له هغه...) سره(څخه، کره، پسې) ، په ما (په تا، په هغه...) کې، پرما(پرتا، پرهغه) باندې(پورې)، وما(وتا، وهغه، ..) ته. که نور وي، نو ګران لوستونکي دې ورته پام وکړي.

یادونه: دا څه چې موږ داسې بولو یا ایې د الماني په مرسته یې داسې رااخلم، په الماني کې یا نه شته او یا داسې نه دي، بېلګې یې اړیینې نه بولم.

اینکلیتیکي یا پسې تکیه اړ نومځاینیوي:

پسې تکیه نومځاینیوي یوه شیدنده لري، که هغه په یوه کړنویي پسې ورزیات شي. زیات وخت په خبریزه ژبه کې یا په شعرونو کې ومخ ته راځي او په لکنیزه ژبه کې بیا ډېر یا نه لیکل کیږي.

دا نومځای نیوي دا لاندې څلور دي.

،، مې، مو، دې ، یې،،.

یوه پیل یادونه: موږ لرو: ا - کتاب مې واخست. ب – کتاب مې سپین ی.

ګورو: په ا – کې: په غونډله کې مې کړونی دی، نو له دې امله ،، ما ،، او په ب – کې ،، مې ،، نه کړونی دی، نو له دې امله د اړونده حالت سره سم د هغه حالت یو مورفېم ، چې پهدې غونډله کې ،، د ،، دی د ،، ما ،، سره ور زیات شي، نو له دې امله د ،، مې ،، په،، دما،، راځي. ګوری، چې پښتو ژبه د ژبلار له مخې څومره له یوه څه څخه دوه ډوله پوهېدنې لري، چې دا ،، مې ،، یوه غونډله کې ،، ما ،، او په بله کې کې ،، دما،، دي.

داسې به ومخ ته لاړ شو، چې

۱ - لومړی به درې غونډلې راوړو، یواځې د یوه کړوني سره او بیا به د دې په مټه پېژند ورکړو.

خبره په څوک او چا کې هم ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۱ - کتاب مې واخست.
چا کتاب واخستۍ؟
ما کتاب واخست. له دې لاس ته راځي
ما کتاب واخست = کتاب مې واخست
۲۱ – کتاب اخلم (که پام وکړو، نو په دې روان حالت کې ،، کتاب اخلم،، تکیه اړ نومځاینیوی نه شته او و پوښتنې ته، چې: څوک کتاب اخلي؟ زه کتاب اخلم، نو د دې لاس ته راوړنه به دا وي، چې دا غونډله ،، کتاب اخلم،، په خپله ختړه کې سمه یا پوره نه ده او دلته باید تل ورسره ،، زه،، وي، په دې پوهېدنه چې اړوند کړونى باید ورسره وي. څوک کتاب اخلي؟ زه کتاب اخلم.)
اړیېنه یادونه: دا نومځاینیوي، د هغه کړنوییونو لپاره راځي، چې پرېکړونى ولري......
یادونه: ډېر ښه راځي، چې دا غونډلې د پوښتنغونډلو له لارې روښانه شي او داسې سمې هم راځي.

څوک کتاب اخلي؟
زه کتاب اخلم = کتاب اخلم
چا کتاب واخست؟
ما کتاب واخست= کتاب مې واخست
۳۱ – کتاب دې اخلم
د تا کتاب اخلم
څوک د چا کتاب اخلي؟
زه د تا کتاب اخلم.
۲ - په دې حالت کې به هم وګورو، چې څو غونډلې لیکلى شو اودا څنګه؟
۲ ۱ – کتاب مې سپین دى
د چا کتاب سپین دى؟
د ما کتاب سپین دى. له دې څخه و لاس ته راځي، چې:

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ما کتاب سپین دی = کتاب مې سپین دی

له دې پورته راوړنو څخه داسې برېښي، چې دا پسې تکيه اړ نومځاينيوي دا دندې لري.

په ۱ - کې مې، مو، دې، يې د کړنوييونو سره کړوني يا رېکتوس دي او

په ۲ - کې خويوييونو سره نه کړوني دي يا دا د خاوندوالي حالت دی.

د ژبلارې په بتست پېژند کې يې داسې هم دي، چې دا نومځاينيوي په خبرژبه کې راځي او په ليکنژبه کې نه راځي.

راځی، چې د دې لپاره لږ تر لږه دا يوه غونډله راوړو او بيايې اړونده پوښتنه پوښتنغونډله راوړو او با د دې پوښتنغونډلې ځواب په همغه تېرې موخې ورکړو. پام ورته کوو:

لرو: کتاب مې يې راوور.

پوښتنه: چا د چا څه شی راوور:

ځواب: هغه دما کتاب راوور.

ګوره چې دا ځواب په همغه موخې دی، خو د همهغو تکيه اړ نومځاينيوو سره نه.

دا ګوره يوه په زړه پورې موضوع ده، چې بايد پام ورته رااوښتی وي.

ډاکتر ماخان ميرى شينوارى

د حالتونو نوى څېړنپوهه

بيا ژبلاريزه نوې څېړن-اند يا څېړنپوهه:

پښتو د ژبلارې له مخې څخه هم يوه هکپکګونکې ژبلاريزه او نه (پوره) يا ښه يې کمه څېړل شوې ژبه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نن د ۲۰۲۲ زک دسپتمبر ۲۶ د سهار یاشپي ۴ بجې. فکر مي ټول د پښتو په ژبلار کې دی او په ژبلار کې دې ښېرن اند (د ښېرنې په بنسټ اند ته) ته ورسېدم:

پښتو یوه ډېر ښه روښانه ژبلار لري.دا چې ژبلار په ژبو کې د ژبې د جوړښت شته لارې ښېري، نو زه تل له یوه اند څخه وبل ته ځم او د نوې ښېرنپوهې سره مخامخ کېږم، چې هغه له تاسو درنو لوستونکو سره ګډوم.

په پښتو چې زه تراوسه پورې له پښتنو څخه لیکل شوي ژبلار سره داسې لږ بلدنیا لرم او د پښتو ژبلار د ترتیب لپاره مې زیات د ژبلار لپاره الماني ادبیات کارولی او بیا هغه، چې د دباندنیو له خوا لیکل شوی، نو هرو مرو د زیات فکر وړ دي، ځکه چې د ټولو ژبو ژبلارې ډېر توپیر سره لري، چې یو له بل څخه ګټه اخستلکېدی شي، خو ورته والی به ونه لري یا ډېر کم.

زه چې د ما په ښېرنو کې تر اوسه پورې وپوهېدم، هغه دا ده، چې موږ په حالتونو کې ډېرې ستونځې لرو، چې په هکله یې ما هم ډېرې لیکنې کړې او دا هم تل د تېرو لیکنو په بشپړېدو.

اوس خپلې دې راته پیدا موخې اند ته، چې کړی شو د پښتو ژبلار د دوه حالتونو کړونی او نه کړوني په ځای په څلورو حالتونو ووېشو او یا په دوه حالتونو داسې چې دا نه کړونی حالت بیا درې برخې ولري. دا به نو ګران لوستونکي او هیله ده ژبپوهان په ګډه سره برابر کړی شو.

د پښتو حالتونه لنډ بې له ډېرې شننې:

لومړی – کړونی : نوموېونه (نومونه او نومځاینیوي): زه، ما، ته ، تا، هغه، هغه او نور، چې د نورو راوړلو ته بیا اړتیا هم نه وي. (۱)

بېلګې:

لومړی ۱ - زه مړې خورم. ما مړې وخوړه.

لومړی ۲ – ته مړی خورې. تا مړی وخوړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لومړی ۳ – هغه مړی خوري. هغه مړی و خوړه. او داسې نور هم....

دویم: پرېکړونی: هغه نومونه یا نومځاینیوي دي، چې څه پرې کیږي، لکه: ما، زه، تا، ته، هغه، هغه او نور. دلته هم همدا بسیا کوي.

یادونه: د کړوني او پرېکړوني په منځکې دا توپیر دی، چې کله، چې کړونی په زه پیل شي، نو پرېکړونی یې ما دی او په څټ، چې کړونی ما وي، نو پرېکړونی زه دی.

بېلګې: دویم ۱ - ته (ما، هغه) وهې. تا (زه، هغه) ووهلم.

دویم ۲ - هغه (ما، تا) وهي. هغه زه ووهلم (ته ووهلې).

ګومان مې دی، دابه بسیا وکړي.

یادونه: په نورو حالتونو کې د زه، ته، هغه.....

دریم: د خاوندوالي حالت: د خاوندوالي لپاره د نوموېونو(نومونو، نومځاینیوو) سره د خانوندوالي مورفیم ،، د ،، د مخه راخي.

بېلګه: دما(دتا، د هغه) کتاب.

څلورم: د پسېځاینیوو حالت:

بېلګې:

څلورم ۱ – له ما (څخه، سره، کره...)

څولورم ۲ – پرمیز (باندې، پورې، پسې)

پنځم ۳ – په ما کې.

څلورم ۴- و ما ته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځلورم ۵ – تر ماپورې. او نور.....

په ځلورم کې څخه، سره،.. کې،باندې، پورې، ته ... پسبځاینیوي دي او، له، تر، په، پر، و ...

د پسبځاینیوو اړونده مورفېمونه دي.

ګورو، چې دلته د نومویونو د مخه د بېلا بېلو پسبځاینیوو اړونده مورفیومونه راځي، نو له دې امله دا د پسبځاینیوو حالت بللی شو.

په ځلورم کې څخه، سره،.. کې،باندې، پورې، ته ... پسبځاینیوي دي او، له، تر، په، پر، و ...

د پسبځاینیوو اړونده مورفېمونه دي.

څنګه کړی شو دا وښایو؟

د تکیه اړ نومځاینیوو په بنسټ

۱ ـ پسې تکیه اړ: مې، مو، دې، یې: دا پسې تکیه اړ نومځاینیوي د یوه نوموي پسې راځي

۲ ـ د مخه تکیه اړ: را، در، ور : دا د مخه تکیه اړ نومځاینیوي د یوه پسبځاینیوي او یواځې د پسبځاینیوي د مخه راځي، نو له دې امله د پسبځاینیوي حالت یې بولم.

و ۱ ته-

و ۱ ته ـ دا پسې تکیه اړ یا اینکلیتیکي نومځاینیوي دوه ځایونو کې کارول کیږي،

۱۱ـ دانومځاینیوي، چې نومویونو پسې راځۍ، که د مخه نومځاینیوی یې د پریکړوني په حالت کې وي، نو پخپله دا پسې نومځاینیوي یې کړونی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بېلګه: کتاب مې واخسته. دلته کتاب پرېکړونی دی او مې کړونی.

۱ ۲ – که د دې نومځاینیوي د مخه نوموی د دې نومځاینیوي پسې د یوه خوي سره سنبال وي، نو دا د خاوندوالي حالت دی.

کتاب مې سره پوښونه لري.

و ۲ ته –

۲ ۱ – دا نومځاینیوي که د کړنوي د مخه راشي، نو دا لوریز کړنویونه دي، چې و موږ ته د دې اوس موخې له امله دا همدومره بسیا کوی.

۲ ۲ – که دا نومځاینیوي د پسېځاینیوي د مخه راشي، نو دا له دې امله د پسېځاینیوو حالت دی او لرو: (را، در، ور) (څخه، سره، کره، پورې، باندې، کې،...).

ګورو دا دلته یواځې له پسېځاینیوو څخه د مخه راځي.

که غواړئ داسې هم کېدی شي، چې ووایو:

پښتو دوه حالتونه رېکتوس او اوبلیکو یا کړونی او نه کړوني حالتونه، چې دا لومړی یې کړونی او پسې دری یې نه کړوني حالتونه وبولو. دنورې روښانتیا لپاره پوره لیکنې په کتاب کې شته.

له دې سره مو هغه اړین څه وښوول، خو اوس اندونه، ګوتنیونې، سمونونه او وړاندیزونه سره ګډ کړو.

ما د دې لیکنې سره - داسې اندم- چې د ټولو له ما څخه د حالتونو په هکله لیکنو ته پایټکی (د پای ټکی) کښېښود. تاسو ټول دې راته بریالي وی.

د پښتو حالتونو د ستونځوبیو بریا

(c) ketabton.com: The Digital Library

څنګه دې لاس ته راوړنې ته بریالی شوم؟

ډېر خوښ یم او باوروکړی، چې ورته پام مې شو، چې دا کار خو د لومړي ځل لپاره د ما موندنه ده او د ډېرو کلونو د څېړنو لاس ته راوړنه ده، چې غونډه شپه مې خوب کډه وکړه. د ما ډېر څه، چې څه مې کړي یا څه باید وکړم، د شپې په چرت یا د شپې په فکر ګړنجولو. مه راپورې خاندی، دا تکیه کلام لکه چې کارول کیږي- کې را پیدا کیږي. خو اجازه راکړي، چې له هر څه څخه د مخه یوه اړینه یادونه وکړم.

اړینه یادونه: باور وکړی، چې ځانپالی نه یم او بل د لیونتوب یا د زوروا‌کوال ګومان مې هم په ځان نه راځي. دا باید روښانه کړم، چې تر څو پورې دا د ما په پوهنه ولاړ ماته راپیدا اند چا په پوهنیزو دلایلو نه وي رد کړی، تر هغې پورې باید سم وګڼل شي او که داسې وي، نو بیا موږ ټولو ته د دې بریا مبارکي وایم.

د ما په دې دعوه کې دوه موخې دي، چې د موږ ژبپوهان او نور ژبمینه وال دې ته راوپارېږي، د نورو پوهنیزه څېړنو په بنسټ یې رد کړي، چې دا به هم د ما د دعوه رد کول، خو بیا به هم دا هڅول د ما بریا وي.

د ما په څېړنو کې مې تل دې ته فکر شته، چې په پښتو کې حالتونه کم یا هېڅ نه دي څېړل شوي او که زه ورڅخه نا خبر یم، هغه به هم رامیدان ته شي، چې زه به ورته خوښ او د دې بریا په څرګندولو به هم هېڅ زړه بدی نه شم.

دا فکر راته ودرېد، چې په همدې هکله مې د خپلو څېړنو یو کتاب برابراوه.

دې بریا ته مې نو څنګه لار ومینده؟

--- د حالتونو په څېړنو مې پیل وکړ، چې د ما په لومړنیو د پښتو ژبلار کتابونو کې هم شته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لومړی مې دا حالتونه د الماني حالتونو په بنسټ وڅېړل، خو په پښتو کونه کې يې کوم ناسمون نه دی راغلی، خو دې څېړلو موخه وره او پايلاس ته راوړنه نه لروده. بيا مې ځنو ملګرو او ژبمينه والو دې ته پام راواړاوه، چې پښتو دوه حالتونه رېکتوس(ولاړ يا کړوني حالت) او اوبليکوس (پروت يا نه کړون ی حالت) حالتونه دي.

هغه مې وڅېړل او په هکله مې د يوه ځوان پوه کامران منګل ليکنه يا ماته په کمنت وليکل، چې ،، د ،، د خاودوالي مورفېم دی. پوه شوم، چې ،، د ،، پرته له نومويونو کومه خپلواکه پوهېدنه نه لري او همدلته مې ورته پام شو، چې ،، د ،، د خاوندوالي حالت يو مورفېم وي او خپلواکه پوهېدنه نه لري، نو دا له، په، پر، او.... هم بايد د کوم حالت يا حالتونو مورفېمونه وي او پرته له نومويونو څخه به خلپواکه پوهېدنه ونه لري. ګومان مې سم وو، خو پرې باوري کېدل يې راته ستونځمن وو، تر څو پورې چې د نور حالتونو په دې پوهېدنه چې لومړی د اينکليتيکي حالت (پسې تکيه اړ حالت) سره مخ شوم. دې هم پوره روښانتيا ځکه نه شوه روا ستلی چې دې پسې او د مخه تکيه اړ هم ورسره يوځای څېړل شوي وو، خو همدلته راته د نومځاينيوو را، در، ور چې پروکليتيکي يا د مخه تکيه اړ نومځاينيوی دي په مرسته دا فکر پيدا شو چې دا له، په، پر، او نور هم لکه،، د،، د حالتونو مورفېمونه دي او دا د (را،در، ور)(څخه، سره، کره، ته، پورې، کې او نور) کاروني له امله بيا د وخت په تېرېدو سره دا فکر هم راته پيداشو، چې پښتو نو يواځې پوستپوزېشنونه لري.

کله چې د کليتيکي (تکيه اړ) کلمې سره مخامخ شوم، چې په دوه برخو اېنکليتيکي (پسې تکيه اړ) او پروکليتيکي (د مخه تکيه اړ) نومځاينيوي لري، نو دې پاي ته راورسېدم.

د دوه حالتونو کړوني او نه کړونو څخه بيا همدې څلورو حالتونو ته راغلم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له دې څخه د مخه مې دا برياوې هم لوې ښبنتن په برخه کړي، چې له، پر، او نور – لکه دباندني او افغاني پښتوپوهان يې وايي- پرېپوزېشنونه نه دي او دا يواځې د حالتونو اړونده مورفېمونه دي، چې پرته له، نومويېونو بله پوهېدنه نه لري او همداسي چې پښتو يواځې پوستپوزېشنونه لري او بس.

دا څه ميندنې چې دي، له نوم څخه يې پوهېږو، چې په ژبه کې شته څه دي، چې هغې ته مو بايد پام شوی وي.

يوه غوره خبره داده، چې د موږ تېرو ژبپوهانو خپلې ژبې ته په دې لنډ وخت کې ډېر کار کړی، ځکه چې پښتو ژبې ته د کار کړلو وخت ډېر لږ وو. ژبه مو داسې په ۱۹۳۲ ز ک کې داسې په نامه په رسميت کې دننه شوه او بيا په ۱۹۶۴ ز ک کې - چې هلته د پښتو تولنه هم جوړه وه - قانوني شوه، نو دا د يوې ژبې د ودې لپاره ډېر لږ وخت دی، چې د دوي ګار زه بيا بيا ستايم.

پای يادونه:

موږ بايد ومنو چې:

لومړی: ژبه پيداېښت دی او نه لکه چې وايو: قرارداد.

دويم: ژبه مو ينخه زره کلنه ځوانه ژبه ده. ځوانه په دې پوهېدنه چې نږدې له نوي کلونو څخه رايه دېځوا او له ۱۹۶۴ ز ک څخه وروسته يې هغه خپل رسمي ځای د قانون په خلورديوالي کې نيولی، خو په عمل کې اوس لا هم ترې لرې ده، خو دا بايد ووايم، چې وده يې پوره ښه ده.

دريم: زه چې ګورم، په ژبه کې مو هغه ډېرې ستونځې په حالتونو کې دي.

زه به له دې ليکنې سره و ځان ته دا اجازه ورکړم، چې دا د حالتونو ستونځې مې له ډېرو ستونځو څخه وروسته اوبی کړې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

-- په لیکنه کې تکرارا له دې املې هم راغلی، چې هره لیکنه په بېلا بېلو ورکړوحالتونو په هکله لیکل شوې، چې ماته بیا د داسې کار سمه راټولونه او ترتیبونه نه کېدونکې وبرېښېده. توان نور دومره نه دی.

-- د ټولو ژبو ژبلارې یو له بل سره پوره توپیر لري لکه چې ژبې سره توپیر لري، خو و خپلې ژبلار ته د نورو پرمختللو ژبو څخه د نوې میندونو په څېر ګټه اخستل کېدی شي او هلته یو نوي څه چې کتل کیږي موږ ته هم د خپلې ژبې د ودې لپاره یو فکر راکوي.

د پښتو ژبلاریزه څېړنه کې مو څه ته باید پام وي؟

د ژبې معیاریکېدنه کله کېدونکې ده؟

د ژبې معیارېکېدنه هغه وخت کېدلی شي، چې زسمی وي او د دولت له خوا څخه یې ملتړ وشي.

موږ د څه ډول لیکنو سره مخامخ کیږو او له هغه څخه باید څه ډول ګټه واکلو؟

موږ لرو:

۱ – تاریخي ژبه.

۲ – کلیوالي ژبه او

۳ – معیاري ژبه

د موږ موخه دا ده چې ژبه مو هغه معیاري حالت غوره کړي، چې په خواشینی یې باید ووایم، چې لا تراوسه پورې نه ده معیاري شوې، لاملونه یې نه راوړم، خو که خبرو ته مو سره اړتیاوه، پرې غږېدلی شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ژبه کې حزف او که حذف(ؤوبخښی، چې راته برگ نه شی، خو عربي مې – په خواشیی باید ووایم نه ده زده، خو هڅېږم، حپله موخه تر شونې پولې پورې په پښتو وییونو هم روښانه کړی شم - نه ده زده) یا پرېښودل او یا ورڅخه تېرېدل نه شته.

دا پرېښودونه په څه پوهېدنه ده؟

که همدا حالتونه راواخلو نو د ،، له کابل ښخه و کور ته ځم. داسې لیکلی شو: د کابله کورته ځو. دلته که ،،څخه،، او ،، و ،، ونه لیکل شي، نو دا دې پروا ونه لري. دا کېدی شي پهدېرو ډولونو ولیکلی شو، خو دا دچا خوښهنه ده او نه لهدې امله، چې گوندې سرې پر پوهېږي. بېرته همدې ته راځو، چې دا د ژبې دسم ښوولو لپاره ژبلاریز لامل نه شي کېدی، پیداپښتنیمگړتیاوي نه مني او ناسمې دي.

ژبه چې په معیاري توگه ځنگه جوړه ده همهغسې جوړه ده او بدلون یې ناپیداپښتي دی.

په ژبه کې تاریخي وییونه، دا په دې پوهېدنه، چې هغه او دغه لیکوال داسې یا هغسې لیکلي، نو باید سم وي (په دې پوهېدنه، چې باید معیاري وي) او یا دا چې هغه او دغه ژبپوه لیکلي، نو باید همهغسې وي، دا دواړه د یوه څه لپاره د ښوولو بسیا نه کوي. دا چې ژبه نوې ده، نو ژبلار هم نوې څېړل کیږي او دا څېړنه د ژبې د جوړښت په بنسټ کیږي، چې هغه سمه څېره یې سمه ده یا هغه معیاري لیکندول یې باید سم وي او هغه سم دی.

خبرې نورې نه اوږدوم او په دې لار کې موږ ته د لا ډېرو بریاوو په هیله.

ډاکتر ماخان مېږی شینواری

برېښناپته: smakhan1946@gmail.com

دوه پرنستي غوښتنلیکونه:

د کابل پوهنتون د پښتو پوهنځي و ریاست ته دوه پرانستی لیکونه!

ډېرو درنو د پوهنتونو د پښتو استادانو، د پوهنې وزارت او د علومو اکادمي استادانو ته یو پرانستی غوښتنلیک.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سر له نن څخه مې وړانديز دى، چې دا د پښتو د حالتونو، چې په پښتو کې څو حالتونه دې د ښوونځي په درسي نصاب کې او همدا ډول په نورو پوهنيزو پروګرامونو کې ورګډ شي، چې ډېر اړيين دى:

موږ په پښتو کې څلور حالتونه لرو، چې دا لاندې دى:

لومړى: کړونى حالت: دا هغه حالت دى، چې څه په کې کيږي، او يا کړل کيږيي.

دا حالت د هر کس يا کسانو لپاره دوه نومځاينيوي لرې، چې زه، ته ، هغه .... او ما، تا، هغه ..... دي. زه به دلته همدا يو زه او ما سره دا څېړنه ياښه يې روښانه ونه و مخ ته بوزم.

١لومړى – هغه کړنه چې کيږي، په هغې کې د وختونو په هکله نومځاينيوى نه بدليږي.

لکه: زه پاڅېږم او زه پاڅېدم. دلته د اوس او د تېروخت نومځاينيوى همهغه،، زه ،، دى.

٢لومړى – دا هغه کړنه ده، چې پرېکړونى لري او له دې امله کړل کيږي. په دې حالت کې وخت اړوند نومځاينيوي بدليږي او په لاندې ډول:

٢لومړى١ – زه ډوډئ خورم. د دې اوس وخت لپاره، چې ډوډئ پرېکړونې ده.

٢لومړى٢ – ما ډوډئ وخوړه. دا د تېر وخت لپاره د ،، زه ،، په ځاى ،، ما ،، راځي، چې دلته هم ډوډئ پرېکړونې ده.

دويم: د پرېکړوني حالت: په دې حالت کې پر يوه څه يا چا باندې څه کيږي يا کړل کيږي.

دا حالت هم د لومړي حالت په څېر دى، خو د نومځاينيوو دندې يې دلته بدليږي.

١دويم: دا هغه حالت دى، چې پرېکړونى يو کړونى لري.

١دويم ١ – ما غورځوي.

١دويم ٢ - زه دې وغورځولم.

٢دويم ١- زه غورځېږم او

٢ دويم ٢ - زه وغورځېدم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا به دواړه اوس په يوه غونډله کې يوځای راوړو، چې کړونی او پرېکړونی په يوځای وي.

ما ته غورځوې. زه تا وغورځولم.

دريم: خاوندوالي حالت: په دې حالت کې يو د ،، د ،، مورفېم، چې خپلواکه پوهېدنه نه لري، د يوه نوموېي سره يوځای راځي او د يوه چا يا يوه څه خاوندوالی وښايي:

لکه: دما کور يا د سپين کور. دا د کور خاوندوالی د مورفېم،، د ،، سره څرګندېږي.

يادونه: له دې امله په زما، يما او د ما کې د ما سم او معياري دی.

نومونه: ،، د ،، د خاوندوالي حالت مورفېم.

څلورم: د پسېځاينيوو حالت:

په پښتو کې دا هغه د ژبې ستونځمنه برخه ده، خو که له دې سره سم کار و مخ ته بوتلل شي، کومې ستونځې نه زېږوي او راتلونکې ليکنې مو له ناسمونو ساتي.

دا به لومړی د کليتيکي دا په دې پوهېدنه، چې دلته د اينکليتيکي نومځاينييو سره وليکو:

يو - (را، در، ور) (څخه، سره، کره، کې، باندې، پورې، پورې، ته... که نور ومخ ته راغلل، نو لار يې همدا ده، کومې ستونځې نه لري).

دوه - دااوس د دې نور نومځاينيوو سره ليکو:

١دوه - (له ما، له موږ، له تا، له تاسو....) (څخه، سره، کره...)

٢دوه - (په ما، په موږ، په تا، په تاسو،...) کې

٣ دوه- (پرما، پرتا، پر هغوي....) (باندې، پورې(١))
٤ دوه - (تر ما، تر تا، تر هغوي،....) پورې (١)

٥ دوه - (وتا، وما، وهغه،...) ته (٢)

....

(c) ketabton.com: The Digital Library

په پورته ليکنه(۱) کې دا ويی ،، پورې،، دوه ببلابېلې پوهېدنې لري: دا د تر تا پورې کې دا ،، پورې،، پوله په ګوته کوي او دا بل ،، پور،، د يو څه پورې، چې يو څه نښتي وي، لکه د ما په کاليو پورې ختې وتپل شوې.

په (۲) کې ،، و ،، و پښتنو ته يا و ځنې پښتنو ته داسې نابلده برېښي، خو ګومان مې دی په کندهاري ويېنو کې شته، خو همداسې دی.

اوس يې لړ روښانونه.

په پورته ليکنه کې له، په، پر،تر، و او ... ټول د اړونده حالتونو مورفېمونه دي، چې يواځې د نومځاينيوو سره د اړونده پسېځاينيوي لپاره موخه ور او اړونده پوهېدنه لري.

دا داسې ده، چې هر يو له دې مورفېمونو يو ټاکلی يا څو ټاکلي پسېځاينيوي لري او په ځتې هر يو پسېځاينيوي يو ټاکلی اړونده د حالتونو مورفېم لري.

لړ روښانونه: يو حالتمورفېم کېدی شي څو پسېځاينيوي ولري، خو هر پسېځاينيوی، ټيک يو د پسېځاينيوو حالتمورفېم لري.

د يوې پربکړې لپاره: په پورته کې ګورو، چې دا له،په، تر، پر ... د حالتونو مورفېمونه دي او يواځي او يواځې په ،، دوه -،، کې د اړونده حالتونو سره راځي.
،،حالتمورفېمونه،، راته ښکلې نومونه برېښي. وبه ليکم، چې ښکلي نومونه ده او همداسې ده.

،، دوه-،، يواځې او يواځې يوه شمېرپوهنيزه کلمه ده، چې داسې ور څخه پوهېږو:
حالتمورفېم سره اړونده حالت پسېځاينيوي او يوه اړونده حالتپسېځاينيوي لپاره ټيک يو اړونده مورفېم شته يا تنظيم شوی، چې بل هر ډول راوړنه يې ناسمه ده.

په پوره پام: دا مو د ټولو ناسمونونو مخه نيسي، لکه ټرټولو.. . تر منځ ، تر څنګه، چې پورې ورسره نه وي او نور.

لنډ: له دې داسې پوهېږو، چې دا مورفېمونه– که حالت مورفېمونه يې وبولو ښه به وي- په بل ځای يا له نا اړونده نورو پسېځاينيوو سره راشي، نو هرو مرو به ناسم وي.

داسې لړ د المانې سره پرتله کونه:

(c) ketabton.com: The Digital Library

په الماني ژبه کې د هر حالت لپاره ځانګړي نومځاينيوي شته. لکه

ich,mein,mir, mich

خو په پښتو کې موږ د دې بدلونونو لپاره اړونده مورفېمونه لرو، چې هر يو يې خپله ځانګړې روښانوندنده لري.

پای يادونه: الف- ،، د ،، د خاوندوالي حالت مورفېم دی.
ب - ،، له،، ، په ، ، پر ، تر، و ،... د (اړونده پسېځاينيو) د پسېځاينيوي حالت مورفېمونه دي او له دې څخه بله دنده نه لري او بله هر ډول کارونه يې ناسمه ده.

هيله ده، چې له دې سره به مو د پښتو ژبلارېزو ستونځوبيو لپاره يوه ښه روښانونه ګرانو لوستونکو ته وړاندې کړې وي.

که دا ليکنه درته د يوه پښتو ډاکتر ليکنه نه برېښي او له دې سره به يې ارزښت درته کم وبرېښي (سمه خو ده) نو کړی چې و ماته د ما د ټولو پښتو ليکنو په چوپړ کې او په ځانګړې توګه د حالتونو مېندنې، چې د پښتو پهژبپ،هنه کې يوه غوره ميندنه ده يوه د پښتو دوکتورا هم راکړی. باور وکړی، چې د پښتو په تاريخ کې دومره کار او سم کار و پښتو ته شوی دی. ګوری، چې ليکنې مې په رېښتيا ځانګړې دي. ما د پښتو دوه ګرامرونه ليکلي، په پښتو کې نا سم راننباسل شوي ويونه او نورې ليکنې.

هيييييله ده، چې ځانپالنه يې ونه بولی، زه هر کار چې کوم، هغه د ما د ځان لپاره دی، چې ځان روغ وساتم او دا دنده يې له سره کړې. خپل کار په چا نه خرڅوم او نه په چا کوم احسان اچوم، خو له تاسو سره يې ګډونه اړيينه بولم، ګومان مې دی، چې و چا ته به په دې کې زيان هم نه وي، چې دا به بيا ناروا کار وي.

دا زه چې وړانديز کوم، هرو مرو يوه ساده خبره نه ده. د دې باورې کېدو لپاره کېدی شي يو د پښتو پوهانو، د نورو پوهنو کسان او همداسې د علومو اکادمي له خوا څخه يو کنفرانس ترتيب شي، چې په هغه کې زه د خپل ليکلي وړانديز سمون او اړيينوالی روښانه کړم، دا راته هرو مرو برېښي.

د دې حالتونو په څېړلو کې مې د نور په څنګ کې ډېر کلونه کار کړی، چې هغه په برېښنا کتابتونو کې هم شته – ketabton.com - او د اړتياپه وخت کې يې زه ورلېږلی هم شم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که تاسو په هکله د مالیکنې وګورئ، نو درته روښانه به شي، چې ما و دې لار ته د رارسېدو لپاره څومره ستونځې ګاللې دي، خو لاس ته راوړنه یې پوره روښانه ده، چې پوره ورته خوښ یم.

د فوق العاده ډاکترۍ راکړې غوښتنلیک!

په پښتو د ما د سترې او بې بدیله بریالۍ څېړنې په هکله د دې کار لپاره د فوق العاده ډاکترۍ راکړې هیله!

د کابل پوهنتون د پښتو پوهنځي و درنو پوهاندانو او ټولو استادانو ته په درناوي!

لکه چې ګورئ، ما په دې اخرو نږدې اولس کلونو کې د پښتو په څېړنه کې زیات کار کړی او ډېر اثار یا لیکنې مې خورې کړي، چې دا ټولې د پښتو تاریخ په اوږدو کې لومړنۍ او یواځنۍ پوهنیز کار دي، د ژبې له لارې به دا هم ووایم، چې لیکنې مې رېښتیا هم پښتو او ځانګړې دي.

په دې ټولو لیکنو کې هغه ستر کار دا دی، چې ما د څېړنو په بنسټ ماته دا بریا هم په برخه شوې، ومومم، چې پښتو هم په خورا روښانه او پوهنوړه توګه څلور حالتونه لري، چې له دې سره مو له یوې خوا څخه د ژبې ستونځې له منځه ځي او له بلې خوا دا د ژبې د ژبلار او ژبپهنې هغه غوره برخه او پوهنیزه بډایه ده، چې نوره هم پوره کیږي.

دا د یوه مسلک په پوهنیزه څېړنه کې یو ډېر ستر کار دی، چې باید د پوهانو له خوا یې ستاینه او پېرزوینه وشي او هغه د یوې فوق العاده ډاکترۍ ورکړه ده.

دا هیله مې د ځان لپارهنه ده، دامې د کار د لاس ته راوړنې له المه ده، چې وخپلې ژبې ته په درنښتوګورو او نور پښتانه ژبمینه وال هم مینه ورسره پیدا کړي. که چېرې د ما غوښتنه نا سمه او ناروا وه، نو هغه په ډېرو ستونځو ولاس ته راوړې د شمېرپوهنې ډاکتري دې راڅخه واخستل شي او په مطبوعاتو کې دې هم په پراخه توګه د ماغندنه وشي.

ستاسو ماخان او په هرصورت بریالي اوسئ.

Smakhan1946@gmail.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ډاکتر ماخان میرزي شینواري کتابونو ته کتنه

د ډاکتر ماخان شینواري پوهنیز کارونه، ځانګړي دي، دا په دې مانا چې د نورو پښتو لیکنو سره د پښتو ژبې له مخې پوره توپیر لري او سوچې بوچې نوې دي. په لاندې ډول:

۱ – ډاکتر شینواري نږدې ځلوېښت کتابونه د شمېرپوهنې رېښه کې په پښتو کړې، دا په دې مانا، چې د عربي ویونو په ځای یا یې نوره هم ښه د مسلکي نومونو انډول پښتو ویونه لیکلي.(دا انډول نومونه په پښتو کې شته، جوړ شوي نه دي)

۲ – په درې کتابونو کې یې فزیک هم په پښتو لیکلی، دا په دې مانا، چې پوهنیز او مسلکي ویونه په پښتو دي، چې دا هم د پښتو ژبې له پاره لومړی ځل دی.

۳ – دوه کتابونه د ژبې په هکله، چې هلته هم د نورو لیکوالانو د لیکنو د سمون سره سر او کار لری ، چې نومونړی په کې تراوسه ځانله دی، لکه په دې نورو لیکنو کې هم.
ملامتي به د نومړي وي، خو وایي، چې کړنې یې د ژبلار سره سمې او سم اندیزې دي.

که ژبسمون، چې بیا هم ډېر غزېدلی او چاپ ته چمتو دی، هغه ویونه د ځېل شوي، چې ناسم ژبې ته را ننباسل شوي.

۴-دوه کتابونه ۴ ۱ – پښتو ژبلار د ښوونځې لپاره به په لنډ وخت کې خوره او

۴ ۲ – د ژبې په چوپړ کې به هم لنډو ورځو کې ستاسو لوستلو ته وړاندې شي.

زما زیاتې لیکنې له پخوا په ټول افغان او اوس همداسې هغه زیات یې د تاند په خپرونه او د دعوت خپرونه کې خواره شوي او نور هم دا کار پسې روان دي.

او کتابونه په کتابتون.کوم کې خوریږي، چې هلته یې بیا د کتاب په بڼه لوستلی شی.

۴ ۳ – دا اوس پنځه او یا ښېړ کتابونه نور د ژبې اړوند ، یو د سیاست، او یو د غورهخبرو کتابونه خپرونې ته چمو دي. (د اوکتوبر اوم ۲۰۲۲)

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ډاکتر ماخام مېړي شينواري ليکنې او ژباړې

د ډاکتر ماخان شينواري چاپ او ناچاپ ليکنې، چې هغه زياته برخه يې له ketabton.com څخه خواره شوې:

<u>:(Vienna (Austria 1988</u>

<u>لومړی:</u>

topological Kaiser , M. Shinwari : Aproximation compact .H.K
Page 117 – 122 ; general algebra 6 algebra : contributions to

<u>:(Vienna (Austria 1987</u>

<u>دويم:</u>

لومړی-und Aproximation durch Polynime in Universalen Interpolation
Diss . Uni. Wien . Algebren

دويم-*and Aproximation by Polynome in universal Interpolation*
the University of Vienna/Austria Dissertation at ,Algebras

لاندې د شميرپوهنې پښتوټول کتابونه په المان کې د ،، افغانستان کلتوري ودې ټولنه،،له خوا چاپ شوي دي
<u>:(Bonn (Germany 2000</u>

دريم: د شميرپوهنې ستر کتاب : د شميرپوهنې برسيره د انجنري، فزيک او اقتصاد لپاره ، همداسې د ښوونکو او زده کوونکو لپاره (دا کتاب په ۹۰۰ مخونو کې چاپ او دا نوې ليکنه به يې ځنو ځايونو غزېدلې او ځنې ځايونه ترې لرې شوي دي)
<u>:(Bonn (Germany 2003</u>

څلورم: ځمککچپوهنه(هندسه) ، په سلو، زرو کې شميرنه، د ګڼې – او کڼې د کڼې شميرنه ، د اختمالوالي شمېرنه کتاب د ښوونځي ټولې اړتياوې پوره کوي
<u>:(Bonn (Germany 2003</u>

پنځم: الجبرونه (د الجبر بنسټونه دي) (ketabton:com ته پورته شوی)

(c) ketabton.com: The Digital Library

:(Bonn (Germany 2003

شپږم: د شميرپوهنې انګرېزي – پښتو ډکشنري.(ketabton:com ته پورته شوی)
:(Bonn (Germany 2003

اووم: د شميرپوهنې الماني - پښتو- او پښتو الماني ډکشنري (ketabton:com ته پورته شوی)

dictionary German/ Pashto and Pashto/German Mathematical
:(Bonn (Germany 2003

اتم: دفرنځيال برابرون (دا کتاب په دې ځانګه کې يو پيل دی، ساده ليکل شوی) (ketabton:com ته پورته شوی)

equation Translation; An Introduction Differential
Germany): 2003) Bonn

نهم: د شمير پوهنې فرمولونو ټولګه
Formulas Mathematical
:(Bonn (Germany 2003

لسم: شميرپوهنه له عربي په پښتو

:(Bonn (Germany 1997

يوولسم: د افغانستان په هکله سپينې خبرې: په المان کې

،،د افغانستان روغې او بيا ابادولو ټولنه،، له خوا

يادونه: له ۲۰۰۰ کال دمخه ډاکتر ماخان شينواري د ،،د افغانستان روغې او بيا ابادولو ټولنه،، له خوا درې سياسي مجلې هم را وستلې.

ژباړې او نورې ليکنې:

: (*Brinkmann. (From Brinkmann.du.de .Prof*

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاندې د برینکمن لیکنې چې له پرینکمن ن ج څخه ژباړل شوي دي. دا کتابونه د ښوونځي له پاره او همداسې د کانکور ازموینې له پاره ګټور دي.

دولسم - شمیرپوهنه د ښوونځي لپاره لومړی ټوک (ketabton:com ته پورته شوی)

دیارلسم – شمیرپوهنه د ښوونځي لپاره دویم ټوک(ketabton:com ته پورته شوی)

څوارلسم – شمیرپوهنه د ښوونځي لپاره دریم ټوک(ketabton:com ته پورته شوی)

پنځلسم - د احتمالوالي شمیرنه د ښوونځي لپاره(ketabton:com ته پورته شوی)

شپاړسم – احصایه یا ستاتیستیک دښوونځي لپاره(ketabton:com ته پورته شوی)

لاندې کتابونه د شتوتګارت د پوهنتون د استادانو د لکچرونو څخه چې د شتوتګارت پوهنتون ن ج څخه خپاره شوي را ژباړل شوي.

اولسم – انالیزی ۱ (ketabton:com ته پورته شوی)

اتلسم – انالیزې ۲(ketabton:com ته پورته شوی)

نولسم – کرښیز الجبر (ketabton:com ته پورته شوی)

شلم - د شمیرپوهنې بنسټونه (ketabton:com ته پورته شوی)

یوېشتم - د فرمولونو ټولګه(ketabton:com ته پورته شوی)

دوه ویشتم – فنکشنل انالیز(ketabton:com ته پورته شوی)

درویشتم – وکتور شمیرنه (ketabton:com ته پورته شوی)

نورې ژباړې

څلرویشتم – له www/grundstudium.info/linearealgebra. څخه:کرښیز الجبر (ketabton:com ته پورته شوی)

پنځویشتم – Georg Gutenbrunner ګنونپوهنه یا د اعدادو تیوري(ketabton:com ته پورته شوی)

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما لیکنې
:(Germany) Bonn

شپږویشتم - د شمیرپوهنې ستر کتاب دویم چاپ لومړۍبرخه: د پوره تغیراتو سره : دا کتاب د شمیرپوهنې برخې برسیره د انجنري، فزیک او اقتصاد لپاره ، همداسې د ښوونکو او زدهکوونکو لپاره پوره ګټور دی. په کتاب کې د اړتیا سره زیاتونه او کونه راغلې (ketabton:com ته پورته شوی)

اوه ویشتم- د شمیرپوهنې ستر کتاب دویمه برخه (ketabton:com ته پورته شوی)

اته ویشتم - ځمککچپوهنه (هندسه) دویم چاپ د پوره تغیراتو سره (ketabton:com ته پورته شوی)

نه ویشتم – الجبر بنستونه دویم چاپ له تغیراتو سره (ketabton:com ته پورته شوی)

دېرشم - ډېرۍ پوهنه یا سټ تیوري (ketabton:com ته پورته شوی)

یودېرشم – د شمیرپوهنې سم اند (منطق ریاضي) (ketabton:com ته پورته شوی)

دوه دېرشم - د یو څو شمیرپوهانو ژوندلیک(ketabton:com ته پورته شوی)

دریدېرشم – د شمیر پوهنې ګډې وډې لیکنې

څلوردېرشم- داهم ژباړه ده، خو لیکونکی یې متآسفانه راڅخه نابلد شوی: د مشتق او انتیګرال شمیرنو ته تمرینونه او اوبیونې یا حلونه یې(ketabton:com ته پورته شوی)

پنځه دېرشم – د شمیرپوهنې انګریزې پښتو او عربي + درې ډکشنري

شپږدېرشم – د شمیرپوهنې پښتو انګرېزي ډکشنري(ketabton:com ته پورته شوی)

اوه دېرشم – د شمیرپوهنې پښتو ډکشنري د شمیرپوهنیزو وییونو په پښتو روښانه ونه(ketabton:com ته پورته شوی)

اته دېرشم - د زړه له کومې(دا هغه لیکنې دي، چې ځنې یې په نړیول جالونو کې خپرې شوي دي.)

نه دېرشم – د افغانستان په هکله سپینې خبرې، چې وبه غزیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځلوېښتم– د شتوتکارت پوهنتون لکچرنوټونو څخه ، چې د شتوتګارت پوهنتون ن ج څخه خپرېږي: د ګروپونو تیوري(ketabton:com ته پورته شوی)

- د ښوونځي لپاره فزیک د برینکمن لیکنه

له پنځم ټولګي څخه تر اووم ټولګي پورې ژباړل شوی (دا چې زما دویم مسلک فزیک دی، دا لیکنې ژباړم. دا هم د دې لیکوال یوه ډېره ښه لیکنه ده، چې -د شمیرپوهنې په څیر- دلته هم زیات تمرینونه د حل یا اوبیونې سره په کې راغلي او ماته زیات ګټور برېښي) او دالاندې د برینکن څخه راژباړلي

یوځلوېښتم - فزیک لومړۍبرخه (ketabton:com ته پورته شوی)

دوه ځلوېښتم – فزیک دویمه برخه. برېښنا پوهنه. همدا کتاب. (ketabton:com ته پورته شوی)

درېځلوېښتم – د پوهنې وزارت له خوا چاپ د ښوونځي شمیرپوهنې کتابونو ته کتنه. دې کتاب کې د دښوونځي کتابونو د هر کتاب یوې برخې ناسمونونو ته ګوته نیول شوې او ناسمونونه بیا سم شوي هم دي.(ketabton:com ته پورته شوی)

څلورڅلوېښتم – د فزیک کوچنۍ ویونو دکشنري(ketabton:com ته پورته شوی)

پنځه ځلوېشتم – پرېپوزېشن یا اړیکویونه.(ketabton.com ته پورته شوی)

شپږځلوېشتم = ژبسمون(پښتو کې ناسم راننوتي ویونه، چې سم شوي دي) (ketabton.com ته پورته شوی)

اوه ځلوېښتم – پښتو ژبلار یا ګرامر ۲۰۲۰ همدا کتاب (ketabton.com ته پورته شوی)

اته ځلوېشتم – ژبسمون (که غواړۍ دویم غزېدلي لیکنه) : له پخوانۍ لیکنې څخه نوی شوی او پوره غزېدلی ۲۰۲۰.(ketabton.com ته پورته شوی)

تازه لیکلي خو تراوسه کتابتون ته نه دې پورته شوي او دا د ځانله لیکنو په توګه له درې کاله را په دیخوا د تاند او په دا ورسته کې د دعوت او همداسې د نورو د ج څخه خوریږي او خواره شوي دي. په دې کتاب کې د پښتو ناسم ننوتي ویونه څېړل شوي ناسمونونو ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګوته نیول شوي او په دلایلو روښانه .شوي، چې ژبمینوالو لهپارهیي لوسته او ګوتنیونه اړیینه ده.

نهه ځلوپښتم – داسې څه له فلسفې ۲۰۲۰(ketabton.com ته پورته شوی)

پنځوسم – ژبې مري او نورې لیکنې ۲۰۲۰ (ketabton.com ته پورته شوی)

دا اوس خورنې ته چمتو: هیله ده چې کتابتون.کوم (ketabton.com ته پورته شوی) کې یې وکتلی شئ

یوپنځوسم- پښتو ژبلار د ښوونځي لپاره. همدا کتاب

دوه پنځوسم- هر څه د ژبې په چوپړ کې.

دوه پنځوسم- هر څه د ژبې په چوپړ کې.

درېپنځوسم- د نړۍ هوښیارتیاوې.

ځلورپنځوسم – د جبران خلیل غوره خبرې .

پنځه پنځوسم- ټولیز سم اند همدا کتاب .

شپږپنسوسم: غوره ویناوې. دویمه برخه.(همدا).

اوه پنځوس: د حالتونو څېړنپای (همدا کتاب)

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ډاکټر ماخان میرې شینواري ژوند ته یوه لنډه کتنه

نوم: ماخان (په لومړي ځل یې نوم ،،میرې،، وو. د رحمابابا لیسه کې نوملیکلو وروسته په ماخان باندې بدل شو)

د کورنۍ نوم : شینواری

د پلار نوم: ارواښاد نورالرحمان

د مور نوم: ارواښاده پستو بي بي

د نیکه نوم: ارواښاد حسن خان

د نیا نوم: ارواښاده صبره بي بي

دزیږېدو کال: ډاکټر ماخان شینواری د ۱۹۴۶ ز ک د سپتمبر په ۱۵ نېټه زیږېدلی دۍ (دا خو هغه رسمي ز ک دۍ. سمه نیټه یې ۱۳۲۲ او ۱۳۲۰ ش ه کلونو منځ کې باید وي، خو تره مې وایي ۱۳۲۰ ه ک دۍ)

د زیږېدو ځای: ننګرهار د شینوارو د هسکې مېنې ولسولي په مورګې کلي کې زیږېدلی.

د مورګۍ غارخلي کلي کې د لمنځتون استادانو څخه له قرانکریم تر پنجکتاب، خلاصه، مونیه، ګلستان پورې، چې دا مو بیا په ښوونځې هم لوستل، لوستلي، خو بې له دې چې پوره پرې پوه شي.

کلیوالي ښونځي: له ۱۹۵۱ تر ۱۹۵۴ پورې د هسکې مېنې مورګۍ لومړني ښونځي، چې دی یې هم د لومړنیو زدکوونکو له ډلې څخه وو.

د رحمان بابا لېسه : له لومړي او بیا له دریم تر ۱۲ ټولګې پورې له ۱۹۵۴ تر ۱۹۶۵ پورې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دی د رحمان بابا ليسه کې له دریم تر ۱۲ ټولګي پورې د خپل ټولګي اولنمره پاتې شوی.

۱۹۶۶ ز ک د کابل پوهنتون دطب پوهنځي په همدې کال کې

۱۹۶۶ ز ک د سپتمبر میاشت د ښوونځي برس له لارې اتریش ویانا ته تګ.

۱۹۶۶ تر ۱۹۶۷ کال پورې ویانا اړوند مودلینګ کې د الماني یا ښه یې اتریشي ژبې او د دیارلسم ټولګي لوست.

اکتوبر ۱۹۶۷ د وینا پوهنتون کې نوملیکنه، چې د پوره زیاتو ستونځو سره په ۱۹۸۹ ز ک کال کې د ډاکترۍ په اخستلو بریالی شو(دا نو پوره ستونځې دي).

له۱۹۸۷ ز ک تر ۱۹۸۸ ز ک د فبروري تر پای د دباندنیو چارو وزارت کې مامور.

د ۱۹۸۸ دمارچ لومړۍ نېټې څخه تر ۱۹۹۲ جون پورې په بون جرمني کې د افغانستان جمهوریت سفارت کې د سفیر دندې د شارژد افیر(صفر نه وو) د نوم لاندې.

له هغې وروسته په جرمنې کې سیاسي پناه.

د ۲۰۰۴ ز ک جون څخه د ۲۰۰۵ ز ک جنوري پورې د کابل علومو اکادمي د پیداېښتي پوهنو څانګه کې دنده.

له ۲۰۰۸ ز ک د مارچ څخه د ۲۰۰۹ زک دسمبر پورې د ریاضي څانګه کې د پوهنې وزارت درسي نصاب کې دنده.

ماخان شینواري بې کاره نه دی او لږ تر لږه له ۱۹۹۷ څخه همدا د کتابونو لیکلو او د ژباړې دنده په غاړه اخستې، چې خپل فکر تر شونې پولې پورې تازه وساتي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماخان میرې په ۱۹۷۲ کې له لرې د میرمن ښاپیرۍ سره واده شوی، چې د واده خبر ورته اتریش ویانا ته ورغلی.

ده د میرمن ښاپیرۍ سره په ۱۹۶۳ ز ک کې کوزده کړې وه.

دوي ته لوي ځښتن په اتریش ویانا کې د مای په شلم ۱۹۷۹ ز ک دوه بچیان وبخښل، چې ځانګه او اباسین نومیږي. ځانګه په المان کې د پوهنتون علمي همکاره وه او د حقوقو ډاکتره ده او اباسین ملي اقتصاد او ټولنیزه سایکولوژي لوستلې.

ډاکتر شینواري ته د پوهنیزو هلو ځلو له امله ستاینلیکونه:

۱ – د افغانستان کلتوري ودې ټولنه. جرمني

۲ – د افغانستان کلتوري ټولنه کولن میشنیش. جرمني

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library